بسم الله الرحمن الرحيم



علم النحو



تألیف

مولانا مشتاق احمد چرتهاولي رحمة الله تعالى عليه

ژباړه، تشريح او تصحيح

د كريميې مدرسې مهتمم او د دار الافتاء خادم

مناظر اهل السنة والجماعت

ابو الاخلاص مولوي مفتي نيك محمد صاحبزاده الفقهي

الحنفي النقشبندي الكريمي

مكتبة الحراء ارگ بازار كندهار

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب پېژندنه

نوم: علم النحو

مؤلف: مولانا مشتاق احمد چرتهاولي رحمة الله تعالى عليه

تشريح او تصحيح: ابو الاخلاص مولوي مفتي نيک محمد صاحبزاده حنفي نقشبندي کريمي
فاضل المدرسة النورية دار العلوم علامه ابو الفيض کندهار
سابقه مدرس: المدرسة الحسنية في جامعة الحبشية
فعلاً مهتمم: المدرسة الكريمية دار العلوم قندهار لمفتي أبي الاخلاص
۹ ناحيه، لويه وياله د ډبرو پُل کندهار افغانستان

د اړيکو شمېرې: اداره: ۰۷۱۱۱۱۰۷٦۹
مهتمم: ۰۷۰۴۲۷۵۳۳۵
دارالافتاء ۰۷۰۷۸۰۳۳۰۴

تصحيح: پخپله مؤلف

د چاپ شمېر: ۱۱۰۰ يو زر او سل ټوکه

د چاپ کال: ۱۴۰۳ ﻫ ش. مطابق ۱۴۴٦ ﻫ ق.

کمپيوټري چارې: محمدنبي حقدوست (۰۷۰۷۴۲۸۱۱٦)

چاپ چارې: **مکتبة الحراء** ارگ بازار کندهار

د لاسته راوړلو پتې:
د کندهار ښار ارگ بازار، مکتبة الحراء، مکتبه ودودية، مکتبه غفارية، د عبد الحي کتابخانه او کريميه مدرسه او د قلات بازار خير خواه کتب خانه



بسم الله الرحمن الرحيم



محترمو مسلمانانو ورونړو! په دې علم النحو باندي تر خپله وسعه پوري خواري وسول، الله تعالی دي يې قبول کړي او الله رب العزت دي د نور خدمت توفيق راکړي، آمين

والسلام، ابو الاخلاص

فهرست

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ

د علم النحو تعريف

علم النحو هغه علم دئ چي د هغه په ذريعه د اسم، فعل او حرف د يو ځای کولو او د جملې جوړولو ترکيب او د هري کلمې د آخري حرف حالت معلوميږي.

د علم النحو فائده

دغه علم انسان د عربي ژبي په ويلو او ليکلو کي له هر ډول خطا او تېروتني څخه خوندي ساتي د مثال په توګه (زيد، دار، دخل، في) څلور (۴) کلمې دي، د دغو څلورو کلمو سره يو ځای کول[۱] او يوه مناسبه جمله ځني جوړول او په سمه توګه يې تلفظ کول د علم النحو په ذريعه معلوميږي[۲].

د علم النحو موضوع

د علم النحو موضوع کلمه او کلام دئ.

---

(۱) مثلاً: (زَيْدٌ دَخَلَ فِيْ دَارٍ) يا (دَخَلَ زَيْدٌ فِيْ دَارٍ) يا (دَخَلَ فِيْ دَارٍ زَيْدٌ).

(۲) يعني بې له يو ځای کېدو څخه د بلې کلمې نه معلوميږي، کلمه چي څو کلمې سره يو ځای سي نو جمله ځني جوړه سي.

لومړی فصل

کلمه او کلام

د لفظ تعریف: لفظ هري هغه خبري ته ويل کيږي چي د انسان له خولې څخه د ژبي په ذريعه راوزي.

اوس نو که د انسان له خولې څخه دغه راوتلې خبره معنی لرونکې وي، هغې ته (موضوع) ويل کيږي او که بې معنی وي، هغې ته (مهمل) ويل کيږي. چي په عربي ژبه کي (لفظ موضوع) دوه ډوله دئ:

۱. مُفْرَدٌ. ۲ مُرَكَّبٌ.

د مفرد تعریف: مفرد هغه لفظ ته ويل کيږي چي يوازي وي او پر يوه معنى دلالت کوي چي دې ته کلمه هم ويل کيږي.

کلمه پر درو برخو وېشل سوې ده:

۱. اِسْمٌ. ۲. فِعْلٌ. ۳. حَرْفٌ

د اسم تعریف

اسم: هغه کلمه ده چي له بل لفظ سره له يوځای کېدلو پرته خپله معنى ورکوي او له درو زمانو (ماضي، حال او استقبال) څخه يوه هم نه وي لکه: رَجُلٌ، عِلْمٌ، مِفْتَاحٌ.

اوس بيا دغه اسم درې ډوله دئ:

۱. جَامِدٌ. ۲. مَصْدَرٌ. ۳. مُشْتَقٌ

جامد: هغه اسم ته ویل کیږي چې نه دی له کوم بل لفظ څخه جوړ سوی وي او نه له ده څخه کوم بل لفظ جوړیږي لکه: رَجُلٌ، فَرَسٌ او داسي نور...

مصدر: مصدر هغه اسم دئ چې دی له بل لفظ څخه نه جوړیږي، لېکن له ده څخه نور الفاظ جوړیږي لکه: نَصْرٌ، ضَرْبٌ او داسي نور...

مشتق: مشتق هغه اسم دئ چې له مصدر څخه جوړ سوی وي لکه له ضَرْبٌ څخه ضَارِبٌ، له نَصْرٌ څخه نَاصِرٌ او داسي نور...

د فِعْل پېژندنه

فِعْل: هغه لفظ دئ چې له بل لفظ له یو ځای کېدلو پرته معنی ورکوي او له درو زمانو (ماضي، حال، یا استقبال) څخه یوه زمانه هم وي لکه نَصَرَ یَنْصُرُ، ضَرَبَ یَضْرِبُ...

فعل څلور ډوله دئ:

۱. مَاضِي. ۲. مُضَارِع. ۳. اَمْر. ۴. نَهِي

د دې تعریفونه په علم الصرف کي بیان سوي دي.

د حَرْف پېژندنه

حرف: هغه کلمه ده چې له بلي کلمې سره له یو ځای کېدو پرته یې معنی نه معلومیږي لکه مِنْ، فِيْ. تر څو چې له دغو حروفو سره یو اسم یا فعل نه وي یو ځای سوی، هیڅ فایده نه ځني اخیستل کیږي

لکه خَرَجَ زَيْدٌ مِنَ الدَّارِ، دَخَلَ عَمْرٌو فِي الْمَسْجِدِ[۱].

حرف دوه ډوله دئ: ۱. عامل. ۲. غیر عامل

د مُرَكَّب پېژندنه

مرکب: هغه لفظ دئ چي له دوو یا تر دوو زیاتو کلمو څخه جوړ وي.

مرکب دوه ډوله دئ: ۱. مرکب مُفِيْدٌ. ۲. مرکب غَيْرُ مُفِيْدٌ

د مرکب مفید پېژندنه

هغه مرکب دئ چي کله متکلم یوه خبره وکړي، نو مُخَاطَب[۲] ته په تیري پیښني خبر سي یا د خبري طلب ورته معلوم سي لکه ذَهَبَ زَيْدٌ یعني زید ولاړی. اِئْتِ بِالْمَاءِ یعني اوبه راوړه.

په اولي خبري سره مخاطب د زید په تګ خبر سو او په دویمي خبري سره مخاطب ته معلومه سوه چي متکلم اوبه غواړي. مرکب مفید ته جمله او کلام هم ویل کیږي.

د جملې پېژندنه

جمله[۳] دوه ډوله ده: ۱. جمله خَبَرِيَه. ۲. جمله يې اِنْشَائِيَه.

---

(۱) د عمرو په پای کي واو لیکل کیږي خو تلفظ نه په کیږي، دا واو د عُمَرْ او عَمَرْ د فرق لپاره دئ. (مراح الارواح: ص ۶۵) ۱۲ ن

(۲) مُخَاطَب صیغه د اسم مفعول ده، مُخَاطِب صیغه د اسم فاعل ده، مُخَاطَب: خطاب ورته سوی، مُخَاطِب: خطاب کوونکی. (معجم الغني) ۱۲ ن

(۳) جمله هغه ده چي له دوو یا تر دوو له زیاتو کلمو څخه جوړه سوې وي لکه (زید قائم) چي دا دوې کلمې جمله عامه ده، د ډېرو کلمو څخه هم جوړیږي. ۱۲ ن

جمله خبریه هغه جملې ته ویل کیږي چې په هغه کې متکلم ته په صادق (رښتینی) یا کاذب (درواغجن) ویل کیږي[1].

جمله خبریه دوه ډوله ده:

۱. جُمْلَةٌ اِسْمِیَهٌ. ۲. جُمْلَةٌ فِعْلِیَةٌ

جمله اسمیه: هغه جملې ته ویل کیږي چې لومړۍ برخه یې اسم وي او دویمه برخه یې اسم یا فعل وي لکه زَیْدٌ عَالِمٌ او زَیْدٌ عَلِمَ. دغه دواړه مثالونه د جملې اسمیې خبریې دي[2]، د جملې اسمیې لومړۍ برخه مسند الیه ده چې مبتداء ورته ویل کیږي او دوهمه برخه یې مسند ده چې خبر ورته ویل کیږي.

د جمله اسمیې خبریې د معنی په پای کې دغه الفاظ راځي: یم، دئ، وو او سو.

جمله فعلیه: هغه جمله ده چې لومړۍ برخه یې فعل وي او دویمه برخه یې فاعل وي لکه عَلِمَ زَیْدٌ، سَمِعَ بَکْرٌ. دغه جملې هره یوه جمله فعلیه ده، لومړۍ برخه یې مسند ده چې فعل ورته ویل کیږي او دویمه برخه یې مسند الیه ده چې فاعل ورته ویل کیږي.

مسند الیه: هغه ته ویل کیږي چې د یوه اسم یا فعل نسبت ورته کیږي او مبتداء ځکه ورته ویل کیږي چې په دې سره د جملې ابتداء کیږي.

---

(۱) یعني د رښتیا او درواغو نسبت ورته کېدای سي. ۱۲ ن

(۲) او د دواړو جملو اول جزء اسم دئ، خو د اولې جملې دوهم جزء هم اسم دئ او د دوهمې جملې دوهم جزء فعل دئ.

مسند: هغه ته ویل کیږي چې بل ته یې نسبت کیږي او خبر ځکه ورته ویل کیږي چې د مخکې اسم د حال خبر ورکوي[۱].

اسم هم مسند او هم مسند الیه کېدای سي لکه زَيْدٌ عَالِمٌ. په دغه جمله کې هم زَيْدٌ اسم دئ او هم عَالِمٌ او دا چې د عَالِمٌ نسبت زَيْدٌ ته کیږي، ځکه نو زید مسند الیه او عالم مسند دئ.

فعل مسند کېدای سي خو مسند الیه نه سي کېدای لکه زَيْدٌ عَلِمَ یا عَلِمَ زَيْدٌ. په دغه دواړو جملو کې د علم نسبت زید ته کیږي، ځکه نو علم مسند او زید مسند الیه دئ.

حرف نه مسند کېدای سي او نه مسند الیه.

ترکیب

د جملې اسمیې ترکیب دا سې کیږي:

زَيْدٌ عَالِمٌ. زَيْدٌ مبتداء، عَالِمٌ خبر، د مبتداء او خبر په یو ځای کېدلو سره جمله اسمیه خبریه سوه.

---

(۱) مسند او اسناد دواړه و نسبت کولو ته ویل کیږي یعنې لکه (ضرب زید) د ضرب یعنې وهلو نسبت و زید ته کیږي. ۱۲ ن

اسم مسند او مسند الیه دواړه کېدای سي لکه (زَيْدٌ عَالِمٌ) په دې کې زید هم اسم دئ او عالم هم اسم دئ خو د عالم د علم نسبت وزید ته سوی دئ ځکه نو زید مسند الیه دئ او عالم مسند دئ. ۱۲ ن	فعل مسند راتلای سي خو مسند الیه نه سي راتلای لکه (زَيْدٌ عَلِمَ) او (عَلِمَ زَيْدٌ) په دغه دواړو جملو کې د علم نسبت زید ته کیږي ځکه نو زید مسند الیه او علم مسند دئ. ۱۲ ن	حرف نه مسند راتلای سي او نه مسند الیه راتلای سي. ۱۲ ن

او د جمله فعليه ترکيب داسي کيږي:

عَلِمَ زَيْدٌ. عَلِمَ فعل، زَيْدٌ فاعل، د فعل او فاعل په يو ځای کېدلو سره جمله فعليه خبريه سوه.

تمرين

د لاندي جملو ترکيب وکړئ

اَلطَّعَامُ حَاضِرٌ	اَلْمَآءُ بَارِدٌ	اَلْاِنْسَانُ حَاكِمٌ	جَلَسَ زَيْدٌ
ذَهَبَ عَمْرٌو	شَرِبَتْ هِنْدٌ	اَكَلَ خَالِدٌ	نَصَرَ بَكْرٌ

جمله انشائيه: هغه جمله ده چي متکلم ته په صادق (رښتيني) يا کاذب (درواغجن) نه سي ويل کېدلای، ځکه چي د انشاء معنی ده د يو شي پيدا کول يا را منځ ته کول[1] او جمله انشائيه هم د يوه کار پر پيدا کولو يا را منځ ته کولو دلالت کوي چي رښتيا او درواغ دخل نه پکښې لري، لکه اِضْرِبْ يعني ويې وهه.

د جملې انشائيې ډولونه

جمله انشائيه څو ډوله ده:

١. امر لکه اِضْرِبْ ويې وهه.

(١) د انشاء معنی ده يو شی نوی پيدا کول. نو کله موږ ان شاء الله ليکو، بايد ان جلا او شاء جلا وليکو چي معنی يې ده (که د الله تعالی اراده وه)، انشاء الله بايد ونه ليکل سي، ځکه چي د دې معنی ډېره خرابيږي او داسي کيږي (که د الله تعالی نوي پيدا کول وه) حال دا چي الله تعالی نوی نه دئ پيدا سوی. ١٢ ن

۲. نهي لکه لَا تَضْرِبْ مه يې وهه.
۳. استفهام لکه هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ؟ ایا زید وهل وکړه؟
۴. تمني لکه لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ کاش چي زيد حاضر وای.
۵. ترجي لکه لَعَلَّ عَمْرًوا غَائِبٌ ښايي عمرو به نه وي.
۶. عقود (معاملات) لکه بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ ما خرڅ کړ او ما رانيوی[1].
۷. نداء لکه يَا اَللّٰهُ! ای الله جَلَّ جَلَالُهُ!
۸. عرض لکه اَلَا تَاْتِيْنِيْ فَاُعْطِيْكَ دِيْنَارًا ته ولي ما ته نه راځې چي زه تا ته دينار درکړم.
۹. قسم لکه وَاللّٰهُ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا په خدای جَلَّ جَلَالُهُ قسم زه به زید خامخا ووهم.
۱۰. تعجب لکه مَا اَحْسَنَهُ هغه څومره ښکلی دئ. اَحْسِنْ بِهِ څومره په ښکلی سو.

د مرکب غير مفيد پېژندنه

مرکب غير مفيد هغه دئ چي متکلم يو څه ووايي خو مخاطب يا سامع له هغه څخه کومه فائده يا خبر يا د طلب معلومات ترلاسه نه

---

(۱) يادونه: دغه بعت او اشتريت هغه وخت جمله انشائيه ده چي د رانيولو او خرڅولو په وخت کي استعمال سي، که نه نو دا په اصل کي د جملې فعليې مثالونه دي، ته ورته گوره، که چيري د رانيولو او خرڅولو له وخت څخه سېوا (بل وخت) استعمال سي لکه (بِعْتُ الْفَرَس) يا (اِشْتَـرَيْتُ الْكِتَاب) نو په دغه وخت کي بيا جمله فعليه ورته ويل کيږي. ۱۲ ن

کړي. مرکب غیر مفید درې ډوله دئ:

١. مُرَكَّبٌ اِضَافِي. ٢. مُرَكَّبٌ بِنَائِي. ٣. مُرَكَّبٌ مَنْعَ صَرْف.

١. مرکب اضافي: هغه ته وايي چي د يوه اسم اضافت و بل اسم ته وسي، د يو اسم اضافت چي سوی وي، هغه ته مضاف ويل کيږي او کوم اسم ته چي اضافت سوی وي هغه ته مضاف اليه ويل کيږي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ په دې ځای کي د غلام اضافت زيد ته سوی دئ، غلام مضاف سو او زيد يې مضاف اليه سو[1].

٢. مرکب بنائي: دا هغه دئ چي دوه اسمونه يو سوي وي، خو په دواړو کي نه نسبت اضافي وي او نه اسنادي وي، همدا ډول د اول اسم دوهم اسم ته د تړون ورکولو يو حرف وي لکه له اَحَدَ عَشَرَ څخه بيا تر تِسْعَةَ عَشَرَ پوري، چي د دې اصل اَحَدٌ وَّعَشَرٌ، وَتِسْعَةٌ وَّعَشَرٌ وو، واو يې حذف کړ او دوه اسمونه يې يو کړل.

فايده: د مرکب بنائي پر دواړو اسمونو باندي تل فتحه (زور) وي، بغير له اِثْنَا عَشَرَ څخه، چي د هغه اوله برخه بدليږي، ځکه معرب ده.

٣. مرکب منع الصرف: دا هغه دئ چي دوه اسمونه يې يو کړی وي او د دواړو په منځ کي کوم د ربط حرف نه وي لکه بَعْلَبَكَّ چي د يو ښار نوم دئ، له بعل او بک څخه مرکب دئ، بعل د بت نوم دئ او بک د ښار د بنسټ ايښوونکي باچا نوم دئ، خو اوس يې دواړه داسي مرکب کړه چي يو نوم يې ور څخه جوړ کړ او په منځ يې کوم

(١) غلام زيد يعني د زيد مريی، ته گوره د مريي نسبت و زيد ته وسو، نو غلام مضاف او زيد ورته مضاف اليه سو. ١٢ ن

حرف رابط هم نسته.

فایده: د مرکب منع الصرف لومړی جزء همېشه مبني بر فتحه وي او دوهم جزء يې معرب وي او سره بدلیږي.

او بل دا چي مرکب غیر مفید همېشه د جملې جزء وي پوره جمله نه سي واقع کېدلای، لکه: غُلَامُ زَيْدٍ حَاضِرٌ، جَاءَ اَحَدَ عَشَرَ، اِبْرَاهِيْمُ سَاكِنُ بَعْلَبَكَّ.

د هر یوه ترکیب داسي دئ: غُلَامُ مضاف، زَيْدٍ يې مضاف اليه دئ، مضاف او مضاف اليه دواړه مبتداء دي، حَاضِرٌ يې خبر سو، د مبتدا او خبر په یو ځای کېدو سره جمله اسمیه خبریه جوړه سوه.

جَاءَ فعل دئ، اَحَدَ عَشَرَ[1] يې مميز دئ او رَجُلًا يې تميز دئ، مميز او تميز فاعل سوه، نو فعل او فاعل دواړه جمله فعلیه خبریه جوړه سوه.

اِبْرَاهِيْمُ مبتداء، سَاكِنٌ مضاف دئ او بَعْلَبَكَّ يې مضاف اليه دئ، مضاف او مضاف اليه خبر دئ، نو مبتدا او خبر جمله اسمیه سوه.

د لاندي جملو ترکیب وکړئ

قَلَمُ زَيْدٍ نَفِيْسٌ ، قَامَ اَرْبَعَةَ عَشَرَ رَجُلًا، خَالِدٌ تَاجِرُ حَضْرَ مَوْتَ

---

(١) احد عشر: د عشر د شين د فتحې (زبر) او سکون (وړغندي) اړوند قاعده دا ده چي که چیري د دې عشر یعني عدد تمييز (معدود) مذکر وو نو شين ته به فتحه (زبر) ورکوې لکه: (احد عَشَرَ رجلًا) او (عَشَرَةَ رِجَالٍ) او که چيري د دې عدد تمييز (معدود) مؤنث وو نو بيا شين سکون (وړغندی) غواړي لکه: (عَشْرَ نِسَاء) او (احد عَشْرَةَ امرأة) الخ (جامع الدروس العربية: ص ١٦) د يادوني وړ ده چي په نوموړې نکته کي د ډېرو خلکو سهوه موجوده ده، بعضي همېشه شين ته فتحه ورکوي او بعضي همېشه شين ته سکون ورکوي، داسي ملګري لا هم سته چي د شين فتحه همېشه صحيح او سکون غلط بولي او داسي ملګري هم سته چي همېشه سکون صحيح بولي او فتحه غلطه بولي. والسلام. ١٢ ن ابو الاخلاص

دوهم فصل

د جملې ذاتي او صفتي اقسام

د يادوني وړ ده هيڅ يوه جمله د دوو کلمو کمه نه وي، يا دواړي کلمې په لفظونو کي داخلي وي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ او يا تقديرًا وي لکه اِضْرِبْ چي د اَنْتَ ضمير پکښي پټ دئ او په لفظونو کي داخل نه دئ.

په يوه جمله کي دوو کلمو زياتي هم وي، البته د زياتوب اندازه يې معلومه نه ده، له دوو څخه تر هر څو پوري راتلای سي(١).

د ترکيب طريقه: کوم وخت چي په جمله کي زياتي کلمې راسي، نو لومړی بايد په هغه کي اسم او فعل سره جلا کړو او بيا ورته وګورو چي معرب دئ که مبني، عامل دئ که معمول، او دا هم معلومه کړو چي د کلماتو تعلق په خپلو کي څه ډول دئ، ځکه چي مسند او مسند اليه ښکاره سي او د جملې صحيح معنی معلومه سي.

د ذات په اعتبار جمله پر څلور قسمه (ډوله) ده:

١. اِسْمِيَهٌ. ٢. فِعْلِيَةٌ. ٣. شَرْطِيَةٌ ۴. ظَرْفِيَةٌ

١. اسميه: لکه زَيْدٌ قَائِمٌ. ٢. فعليه: لکه قَامَ زَيْدٌ.

٣. شرطيه لکه اِنْ تُكْرِمْنِيْ اُكْرِمْكَ. ۴. ظرفيه لکه عِنْدِيْ مَالٌ.

(١) حتی په ترکيب ځنځيري کي تاسو وګورئ له ډېرو جملو څخه يې يوه جمله جوړه کړې وي، او د ترکيب ځنځيري اړوند ترکيب حقاني ښه بحث کړی دئ. ١٢ ن

د صفت په اعتبار جمله پر شپږ قسمه (ډوله) ده:

۱. مُبَيَّـنَه: چي د مخکي جملې وضاحت وکړي لکه اَلْكَلِمَةُ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ: اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ.

په دې مثال کي د اولي جملې مطلب واضح نه وو، چي کوم درې اقسام دي، خو وروسته دوهمي جملې د هغه ښه وضاحت وکړ چي هغه درې اقسام نو اسم، فعل او حرف دي[1]. نو دغه دوهمه جمله مُبَيَّنَه سوه.

۲. مُعَلَّـلَه: چي د مخکي جملې علت بيان کړي، لکه په حديث شريف کي چي راغلي دي: (لَا تَصُوْمُوْا فِيْ هٰذِهِ الْاَيَّامِ فَاِنَّهَا اَيَّامُ اَكْلٍ وَّشُرْبٍ وَّبِعَالٍ).

ترجمه: تاسي روژه مه نيسئ! په دغه پنځو ورځو کي (د کوچني او لوی اختر اولي ورځي، او د ايام تشريق درې ورځي)، ځکه چي هغه د خوراک، څښاک او جماع ورځي دي.

په دغه مبارک حديث کي د دغو پنځو وروځو له روژه نيولو څخه منع سوې ده خو علت يې بيا په دوهمه جمله کي بيان سوی دئ، چي هغه د خوراک، څښاک او جماع ورځي دي.

---

(۱) حکم چي په منطقو کي تېر سوی دئ چي (دئ) يا (نه دئ)، دا به د خبري په پای کي وي نو داسي به ووايو: اسم، فعل او حرف دئ، داسي به نه وايو چي اسم دئ او فعل دئ او حرف دئ. ۱۲ ن

۳. مُعْتَرِضَه: چي دوو جملو په منځ کي بې پیوسته واقع وي لکه (قَالَ اَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ اَلنِّيَّةُ [1] فِي الْوُضُوْءِ لَيْسَتْ بِشَرْطٍ) په دې جمله کي رحمه الله جمله معترضه ده، چي له مخکي او وروسته جملې سره یې هیڅ تعلق نسته.

۴. مُسْتَأْنِفَه: دا هغه جمله ده چي په دې سره نوی کلام شروع سي لکه: اَلْكَلِمَةُ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَقْسَامٍ دې جملې ته ابتدائیه هم ویل کیږي.

۵. حَالِيَه: دا هغه جمله ده چي د ما قبل (مخکي) جملې لپاره حال واقع سوی وي لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ[2].

٦. مَعْطُوْفَه: دا هغه جمله ده چي پر مخکي جملې باندي عطف سوې وي لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَذَهَبَ بَكْرٌ.

---

(۱) یادونه: ځیني کمپیوټري خطونه داسي وي چي که پر کوم حرف باندي شد او زېر دواړه راغلي وي، نو زېر تر شد لاندي نوشته کوي، لکه په (اَلنِّـيَّـةُ) کي ښه خو دا وه چي زېر تر حرف لاندي نويشته کړل سي، خو دا د کمپیوټر د ځینو خطونو ترتیب داسي دئ. ۱۲ ن

(۲) دلته د (وهو راکب) حال واقع سوی دئ دپاره د مجیئت یعني زید په داسي حال کي راغلی چي راکب وو. ۱۲ ن

دریم فصل

د اسم علامې

د اسم یوولس علامې دي (یعني تقریبًا):

۱. چې په سر کې یې الف لام وي لکه: اَلْحَمْدُ.

۲. چې په سر کې یې حرف جر وي لکه: بِزَيْدٍ.

۳. چې په آخر کې یې تنوین وي لکه: زَيْدٌ.

۴. چې مسند الیه وي لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

۵. چې مضاف وي لکه: غُلَامُ زَيْدٍ.

٦. چې مصغر وي لکه: قُرَيْشٌ، رُجَيْلٌ.

۷. چې منسوب وي لکه: بَغْدَادِيٌّ، هِنْدِيٌّ.

۸. چې تثنیه وي لکه: رَجُلَانِ.

۹. چې جمع وي لکه: رِجَالٌ.

۱۰. چې موصوف وي لکه رَجُلٌ كَرِيْمٌ.

۱۱. چې متحرکه تاء ور سره نښتې وي لکه: ضَارِبَةٌ[۱].

فایده: دا هم باید وویل سي چې فعل چې تثنیه او جمع نه وي او د فعل هغه صیغې چې تثنیه او جمع بلل کیږي، هغه د فاعل په اعتبار

(۱) د اسم علامې زیاتي دي، یوازي همدا یوولس (۱۱) نه دي، بلکي نوري هم سته، ځینو کتابو آن و اویا (۷۰) ته رسولي دي، خو د متوسطه طالبانو لپاره همدا یوولس (۱۱) کافي دي. ۱۲ ن

تثنيه او جمع بلل کيږي لکه: فَعَلَا، يَفْعَلَانِ يعني هغه دوو خلکو وکړ، هغه دوه خلک يې کوي.
همدا ډول فَعَلُوْا- يَفْعَلُوْنَ يعني ډيرو خلګو وکړ، ډېر خلګ يې کوي، د دې جملو مطلب دا دئ چي کار يې يو کړی دئ خو دوو يا ډېرو خلکو کړی دئ، نه دا چي دوه يا ډېر کارونه يې وکړه.

د فعل علامې

د فعل اته علامې دي (يعني تقريبًا):
١. چي د کلمې په سر کي قد وي لکه:
قَدْ ضَرَبَ بېشکه هغه وهل کړي دي.
٢. چي د کلمې په سر کي سين وي لکه:
سَيَضْرِبُ ژر دئ چي هغه به وهل وکړي.
٣. چي د کلمې په سر کي سوف وي لکه:
سَوْفَ يَضْرِبُ ژر به هغه وهل وکړي.
۴. چي حرف جزم پر راغلی وي لکه: لَمْ يَضْرِبْ.
۵. چي ضمير متصل پسي نښتی وي لکه: ضَرَبْتُ.
٦. چي په آخر کي يې تاء ساکنه مطوله راغلې وي لکه: ضَرَبَتْ.
٧. چي امر وي لکه: اِضْرِبْ.
٨. چي نهي وي لکه: لَا تَضْرِبْ(١).

(١) د فعل علامې يوازي دغه اته (٨) دانې نه دي، بلکي ډېري دي. ١٢ ن

د حرف علامه

د حرف علامه دا ده چي په هغه کي به د اسم او د فعل علامې او نښې وي، په حقیقت کي حرف په کلام کي مقصود نه وي، بلکي حرف یوازي د ربط د فایدې لپاره وي، د دوو (۲) اسمونو په منځ کي تعلق راولي لکه: زَيْدٌ فِي الدَّارِ(۱).

او یا د اسم او فعل په منځ کي تعلق راولي لکه: كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ او یا د دوو فعلونو په منځ کي تعلق راولي لکه أُرِيْدُ اَنْ اُصَلِّيَ(۲).

---

(۱) چي یو اسم زید دئ او بل اسم دار دئ، في حرف سو، نو في د دې دوو اسمو تر منځ ربط راوستی. ۱۲ ن

(۲) تاسو وګورئ، د حرف لپاره دا څومره مهمه فایده سوه چي ربط د کلمو کوي که دوې کلمې وي او که ډېري وي، که د اسم کلمې وي او که د فعل او که د فعل او اسم دواړو ګډې کلمې وي. ۱۲ ن

څلورم فصل

مُعْرَب او مَبْنِي

د آخري حرف د بدلون په اعتبار کلمه پر دوه ډوله ده:

۱. مُعْرَب. ۲. مَبْنِي

معرب: دا هغه کلمه ده چي آخري حرف يې تل بدليږي، په کوم سبب چي بدليږي هغه ته عامل ويل کيږي، او کوم شی چي پر آخري حرف باندي بدليږي هغه ته اعراب ويل کيږي[۱].

اعراب پر دوه قسمه دئ:

۱. حرکتي لکه ضمه ـُ ، فتحه ـَ او کسره ـِ .

۲. حرفي لکه واو (و)، الف (ا) او ياء (ی).

او آخري حرف ته د اعراب محل وايي لکه: جَاءَ زَيْدٌ چي په دې کي جاء عامل دئ او پر زيد باندي ضمه ده دا اعراب دئ، په رَاَيْتُ زَيْدًا کي رايت عامل دئ[۲] او پر زيدًا باندي چي کومه فتحه ده هغه اعراب دئ او په مَرَرْتُ بِزَيْدٍ کي باء حرف جار عامل دئ او پر زيد باندي کسره ده هغه اعراب دئ، نو زيد معرب دئ او د زيد آخري حرف دال د اعراب مَحَل دئ او ضمه، فتحه او کسره اعراب دي.

---

(۱) يو عامل دئ، بل معمول دئ، بل عمل دئ، يا په بل عبارت: يو مؤثِر دئ، بل مؤثَر دئ او اثر دئ، مثلاً: (لَمْ يَضْرِبْ) لَمْ عامل يا مؤثِر دئ، يَضْرِبْ معمول يا مؤثَر دئ، باء محل د اعراب يا محل د عمل يا محل د اثر ده، داسي ښه اجراء په کار ده. ۱۲ ن

(۲) رأيت کي چي کومه رفع ده هغه عامل دئ. ۱۲ ن

مبني: دا هغه کلمه چي تل پر يوه حال وي، يعني د عامل په بدلېدو سره په آخري حرکت کي هيڅ بدلون نه راځي لکه: جَاءَ هٰذَا، رَاَيْتُ هٰذَا، مَرَرْتُ بِهٰذَا په دې مثالو کي هذا مبني دئ چي همېشه پر يوه حال وي.

مبنی آن باشد که ماند بر قرار
معرب آن باشد که گردد بار بار[1]

د مبني او معرب فرق

په ټولو اسمونو کي يوازي اسم غير متمکن مبني دئ، په افعالو کي فعل ماضي، فعل مضارع او امر حاضر معلوم، چي په هغه کي نون جمع مونث او نون تاکيد وي، مبني دي او حروف ټول مبني دي.

اسم مُتَمَكِّن معرب دئ، په دې شرط چي په ترکيب کي واقع وي او له ترکيب څخه بغير مبني دئ.

اسم متمکن: متمکن ته ولي متکمن وايي، وجه د تسميې يې دا ده چي متمکن د تمکن څخه دئ او تمکن د ځای ورکولو په معنی دئ يا قدرت بل ته پر ځان ورکول، نو دا اسم هم اعراب ته ځای ورکوي او عامل ته پر ځان باندي قدرت ورکوي نو ځکه متمکن ورته وايي او هغه له مبني الاصل سره مشابهت هم نه لري.

---

(١) مبني هغه دئ چي پر يوه حالت پاته وي او معرب هغه دئ چي گرځي وار په وار. ١٢ ن

فعل مضارع: معرب ده په دې شرط چي له نون جمع مونث او له نون تاكيد څخه به خالي نه وي، بغير له دغو دوو ډولو څخه نور معرب نسته، يعني يو هغه اسم چي له مبني الاصل سره مشابهت ونه لري او بل فعل مضارع چي له نون جمع مونث او له نون تاكيد څخه خالي نه وي.

اِسْم غَيْرُ مُتَمَكِّن: غير متمكن هغه ته وايي چي له اصل مبني سره مشابهت ونه لري.

مبني الاصل درې شيان دي:

١. فعل ماضي. ٢. امر حاضر معلوم. ٣. جمله (ټول) حروف

نو د مبني الاصل سره مشابهت څو قسمه دئ:

يا په اسم كي د مبني الاصل معنى وي لكه په أَيْنَ كي چي د همزې معنى استفهام ده او د استفهام همزه د مبني الاصل حرف دئ، په هَيْهَاتَ كي معنى د ماضي ده او رُوَيْدَ په معنى د امر حاضر دئ، ماضي او امر دواړه مبني الاصل دي.

يا دا چي د حروف په شان اسم غير متمكن هم محتاج وي، لكه اَسْمَاءُ مَوْصُوْلَاتٍ يا اَسْمَاءُ اِشَارَاتٍ، چي صلې او مشار اليه ته محتاج وي.

همدا ډول اسم غير متمكن چي تر درو حروفو كم وي لكه مَنْ - ذَا.

يا دا چي يوه برخه يې حرف ته شامله وي لكه اَحَدَ عَشَرَ چي اصل يې اَحَدٌ وَعَشَرٌ وو(١).

---

(١) نوموړى درس په ډېر تكرار سره زده كيږي او د هري خبري په جلا جلا كېدو سره زده كيږي. ١٢ ن

پنځم فصل

د اسم غير متمكن اقسام

اسماء غير متمكن يا مبني پر اته قسمه ده:

١. مُضْمَرَاتٌ
٢. اَسْمَاءُ مَوْصُوْلَاتٍ
٣. اَسْمَاءُ اِشَارَاتٍ
٤. اَسْمَاءُ اَفْعَال
٥. اَسْمَاءُ اَصْوَاتٍ
٦. اَسْمَاءُ ظُرُوْفٍ
٧. اَسْمَاءُ كِنَايَاتٍ
٨. مُرَكَّبٌ بِنَائِى

مُضْمَرَات پر پنځه قسمه دي:

١. مَرْفُوْعٌ مُتَّصِلٌ
٢. مَرْفُوْعٌ مُنْفَصِلٌ
٣. مَنْصُوْبٌ مُتَّصِلٌ
٤. مَنْصُوْبٌ مُنْفَصِلٌ
٥. مَجْرُوْرٌ مُتَّصِلٌ.

ضمير مرفوع متصل: يعني د فاعل هغه ضمير چي له فعل سره يو ځاى وي، چي هغه څوارلس دي:

ضَرَبْتُ	ضَرَبْنَا	ضَرَبْتَ	ضَرَبْتُمَا	ضَرَبْتُمْ	ضَرَبْتِ	ضَرَبْتُمَا
ضَرَبْتُنَّ	ضَرَبَ	ضَرَبَا	ضَرَبُوْا	ضَرَبَتْ	ضَرَبَتَا	ضَرَبْنَ(١)

ضَمِير مَرْفُوْع مُنْفَصِل: يعني د فاعل هغه ضمير چي له فعل سره يو ځای نه وي، چي هغه څوارلس دي:

اَنَا	نَحْنُ	اَنْتَ	اَنْتُمَا	اَنْتُمْ	اَنْتِ	اَنْتُمَا
اَنْتُنَّ	هُوَ	هُمَا	هُمْ	هِيَ	هُمَا	هُنَّ

يادونه: مرفوع ضمير بغير له فاعل څخه په نورو مرفوعاتو کي هم راځي، دلته يوازي د اسانۍ په وجه د فاعل لپاره ياد سوی دئ.

ضَمِير مَنْصُوْب مُتَّصِل: يعني د مفعول هغه ضمير چي له فعل سره يو ځای وي، چي هغه هم څوارلس دي:

ضَرَبَنِيْ	ضَرَبَنَا	ضَرَبَكَ	ضَرَبَكُمَا	ضَرَبَكُمْ	ضَرَبَكِ	ضَرَبَكُمَا
ضَرَبَكُنَّ	ضَرَبَهُ	ضَرَبَهُمَا	ضَرَبَهُمْ	ضَرَبَهَا	ضَرَبَهُمَا	ضَرَبَهُنَّ

ترکيب: ضرب فعل دئ، هو ضمير پکښي فاعل دئ، نون وقايه ياء ضمير د متکلم مفعول به دئ، نو فعل سره د فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه جوړه سوه.

ضمير منصوب منفصل: يعني د مفعول هغه ضمير چي له فعل سره يو ځای نه وي، چي هغه هم څوارلس دي:

---

(١) د يادوني وړ ده چي کوم چوکاټونه موږ ورکړي دي دا په اصل اردو چاپ کي نسته، فقط د آسانۍ لپاره مو ورکړي دي. ١٢ ن

اِيَّایَ	اِيَّانَا	اِيَّاكَ	اِيَّا كُمَا	اِيَّاكُمْ	اِيَّاكِ	اِيَّا كُمَا
اِيَّاكُنَّ	اِيَّاهُ	اِيَّاهُمَا	اِيَّاهُمْ	اِيَّاهَا	اِيَّاهُمَا	اِيَّاهُنَّ

يادونه: ضمير منصوب له مفعول به څخه بغير په نورو منصوباتو کي هم راځي، دلته د اسانۍ لپاره مفعول به ياد سوی دئ.

ضمير مجرور متصل: هم څوارلس دي، چي پر دوه قسمه دي:

۱. هغه چي حرف جر باندي داخل وي.

۲. هغه چي مضاف پر داخل وي.

ضمير مجرور چي حرف جر باندي داخل وي:

لِیْ	لَنَا	لكَ	لَكُمَا	لَكُمْ	لَكِ	لَكُمَا
لَكُنَّ	لَهُ	لَهُمَا	لَهُمْ	لَهَا	لَهُمَا	لَهُنَّ

ضمير مجرور چي مضاف باندي داخل وي:

دَارِیْ	دَارُنَا	دَارُكَ	دَارُكُمَا	دَارُكُمْ	دَارُكِ	دَارُكُمَا
دَارُكُنَّ	دَارُهُ	دَارُهُمَا	دَارُهُمْ	دَارُهَا	دَارُهُمَا	دَارُهُنَّ

فايده: کله له جملې څخه مخکي د غايب ضمير له مرجع څخه بغير راځي، که هغه ضمير د مذکر وي ضمير شان ورته ويل کيږي او که ضمير د مونث وي نو ضمير قصه ورته ويل کيږي، تر ضمير وروسته جمله به د هغه تفسير کوي لکه: اِنَّهُ زَيْدٌ قَائِمٌ شان دا دئ چي زيد ولاړ دئ، يا اِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ په تحقيق سره قصه دا ده چي زينب ولاړه ده.

اسماء موصولات

اَلَّذِيْ	اَلَّذَانِ	اَلَّذَيْنِ	اَلَّذِيْنَ	
هغه يو سړی	هغه دوه کسان	هغه دوه کسان	هغه ډېر کسان	
اَلَّتِيْ	اَلَّتَانِ	اَللَّتَيْنِ	اَللَّاتِيْ	اَللَّوَاتِيْ
هغه يوه ښځه	هغه دوې ښځي	هغه دوې ښځي	هغه ډيري ښځي	هغه ډيري ښځي
مَا	مِنْ	اَيٌّ	اَيَّةٌ	
څه شي	څوک	کوم يو	کومه يوه	

او الف و لام چي پر اسم فاعل او اسم مفعول کله داخل سي هغه د اَلَّذِيْ په معنی دئ، لکه اَلضَّارِبُ چي په معنی د اَلَّذِيْ ضَرَبَ دئ او اَلْمَضْرُوْبُ په معنی د اَلَّذِيْ ضُرِبَ دئ او ذو په معنی د اَلَّذِيْ د بنو طي د قبيلې په ژبه کي لکه جَاءَ ذُوْ ضَرَبَكَ يعني اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ ای او ايۃ معرب دي بغير له اضافته نه کاريږي.

فايده: اسم موصول هغه اسم دئ چي له صلې څخه د جملې بغير پوره جزء نه سي واقع کېدای او صله جمله خبريه وي چي په هغه کي به خامخا يو ضمير وي او موصول ته به راجع وي لکه: جَاءَ الَّذِيْ اَبُوْهُ عَالِمٌ راغلی هغه سړی چي پلار د ده عالم دئ.

ترکيب: جاء فعل دئ، الذی اسم موصول دئ، ابو مضاف دئ او ہُ ضمير مضاف اليه دئ، نو مضاف او مضاف اليه مبتداء سو او عالمٌ

خبر سو، نو مبتداء او خبر جمله اسمیه خبریه صله جوړه سوه، موصول سره له صلې څخه فاعل د جاء سو، نو فعل سره له فاعل څخه جمله فعلیه خبریه جوړه سوه.

د لاندي جملو ترکیب وکړئ

جَاءَ اَلَّذِیْ ضَرَبَكَ رَاَیْتُ اَلَّذِیْنَ ضَرَبَاكَ مَرَرْتُ بِالَّذِیْنَ ضَرَبُوْكَ
اَکْرِمْ مَنْ اَکْرَمَكَ قَرَاْتُ مَا کَتَبْتَ

اسماء اشارات

اسماء اشارات پر دوه ډوله دي:

۱. اشاره قریب (نږدې) ۲. اشاره بعید (لیري)

اسماء اشاره قریب:

مُؤنث			مذکر		
هٰؤُلَآءِ	هَاتَانِ	هٰذِهِ	هٰؤُلَآءِ	هٰذَانِ	هَذَا
دغه ډیري ښځي	دغه دوې ښځي	دغه یوه ښځه	دغه ډېر سړیان	دغه دوه سړیان	دغه یو سړی

اسماء اشاره بعید:

مُؤنث			مذکر		
اُوْلٰئِكَ	تَانِكَ	تِلْكَ	اُوْلٰئِكَ	ذَانِكَ	ذٰلِكَ
هغه ډیري ښځي[1]	هغه دوې ښځي	هغه یوه ښځه	هغه ډېر سړیان	هغه دوه سړیان	هغه یو سړی

---

(۱) د اسماء اشارات اړوند د مبتدي طالبانو لپاره همدغه قدر زده کول کفایت کوي. ۱۲ ن

فایده: پر کوم لفظ چي اشاره وسي هغه ته اسم اشاره وايي او چا ته چي اشاره وسي هغه ته مَشَارٌ اِلَيْهِ وايي لکه هٰذَا الْقَلَمُ نَفِيْسٌ په دې مثال کي هذا اسم اشاره دئ او قلم مَشَارٌ اِلَيْهِ دئ.

ترکیب: هٰذَا اسم اشاره دئ، اَلْقَلَمُ مَشَارٌ اِلَيْهِ دئ، اشاره او مشار اليه مبتداء سو او نَفِيْسٌ يې خبر دئ، مبتداء سره له خبره جمله اسميه خبريه جوړه سوه.

د لاندي جملو ترکيب وکړئ

هٰذَا الْبَيْتُ قَدِيْمٌ هٰؤُلَاءِ اِخْوَانُ سَعِيْدٍ هٰذِهِ الْمَرْاَةُ صَالِحَةٌ

هَاتَانِ الْبِنْتَانِ اُخْتَانِ اُوْلٰئِكَ طُلَّابُ الْمَدْرَسَةِ

اسماء افعال

اسماء افعال د فعل په معنی پر دوه قسمه دي:

۱. د امر حاضر په معنا:

رُوَيْدَ	بَلْهَ	حَيَّهَلْ	هَلُمَّ	دُوْنَكَ	عَلَيْكَ	هَا
پرېږده	پرېږده	ځیر سه	راسه	واخله	لازم کړه	ونیسه

۲. د فعل ماضي په معنا:

هَيْهَاتَ	شَتَّانَ	سَرْعَانَ
لیري سوه	جلا سوه	تلواریې وکړی

اسماء اصوات

دا هغه اسمونه دي چي د يوه ږغ د بدلولو په هڅه ايستل کيږي اُحْ

اُحْ (ټوخی) اُفْ اُفْ (زګېروی) بَخَّ بَخَّ (د خوشحالۍ په وخت کي) نَخَّ نَخَّ (د اوښ کښېنولو په وخت کي) عَاقِ (د قارغه اواز).

اسماء ظروف

دا هغه کلمات دي چي د ظرف زمان او مکان معناوي پکښي وي.

ظرف زمان: اِذْ، اِذَا، مَتٰى، كَيْفَ، اَيَانَ، اَمْسِ، مُذْ، مُنْذُ، قَطُّ، عَوْضَ، قَبْلُ، بَعْدُ.

﴿ اِذْ ﴾: دا لفظ که څه هم پر مستقبل داخل وي، مګر د ماضي لپاره راځي، او وروسته يې جمله اسميه او فعليه دواړه راتلای سي لکه: جِئْتُكَ اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَ اِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ.

﴿ اِذَا ﴾: دا لفظ هم خپله د مستقبل لپاره راځي او هم ماضي د مستقبل لپاره کوي لکه: اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ او لکه: آتِيْكَ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ د مفاجات لپاره هم کله کله راځي لکه: خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ يعني زه اووتلم، ناڅاپه يو لېوه ولاړ وو.

﴿ مَتٰى ﴾: دا لفظ د شرط او استفهام لپاره راځي لکه: مَتٰى، تَصُمْ، اَصُمْ يعني چي ته څه وخت روژه نيسې، زه يې هم نيسم، دا مثال د شرط مثال سو، او د استفهام مثال لکه: مَتٰى تُسَافِرُ يعني ته کله مسافر سوې؟ دا د استفهام مثال سو.

﴿ كَيْفَ ﴾: دا لفظ د حال د پوښتني لپاره راځي لکه: كَيْفَ اَنْتَ څنګه يې ته، يا لکه: فِيْ اَيِّ حَالٍ اَنْتَ ته په څه حال کي يې.

﴿ اَیَّانَ ﴾: دا لفظ د وخت د پوښتني لپاره راځي لکه: اَیَّانَ یَوْمُ الدِّیْنِ یعني د جزا ورځ کومه ده.

اَمْسِ: لکه: جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَمْسِ زید ما ته پرون راغلی وو.

﴿ مُذْ ﴾ او ﴿ مُنْذُ ﴾: دا دواړه لفظونه د کار اول وخت ښیي لکه: مَا رَاَیْتُهُ مُذْ یَوْمِ الْجُمُعَةِ یعني ما هغه د جمعې له ورځي څخه نه دئ لیدلی، د ټول وخت لپاره هم راځي لکه: مَا رَاَیْتُهُ مُذْ یَوْمَیْنِ یعني ما هغه له دوو ورځو څخه نه دئ لیدلی.

﴿ قَطُّ ﴾: دا لفظ د ماضي منفي د تاکید لپاره استعمالیږي لکه: مَا ضَرَبْتُهُ قَطُّ یعني ما هغه هیڅ وخت نه دئ وهلی.

﴿ عَوْضُ ﴾: دا لفظ د مستقبل منفي لپاره استعمالیږي لکه: لَا اَضْرِبُهُ عَوْضُ یعني زه هغه هیڅ وخت نه وهم.

﴿ قَبْلُ ﴾ او ﴿ بَعْدُ ﴾: دا لفظ هغه وخت استعمالیږي چي مضاف وي او د متکلم په نیت کي وي لکه دا قول د الله تعالی: ﴿لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ﴾ اَیْ مِنْ قَبْلِ کُلِّ شَیْءٍ وَمِنْ بَعْدِ کُلِّ شَیْءٍ او لکه: اَنَا حَاضِرٌ مِنْ قَبْلُ یعني مِنْ قَبْلِكَ مَتٰی تَجِیْئُنَا بَعْدُ یعني بَعْدَ هٰذَا.

ظرف مکان: حَیْثُ، قُدَّامُ، خَلْفُ، تَحْتُ، فَوْقُ، عِنْدَ، اَیْنَ، لَدٰی، لَدُنْ، اَنّٰی[1].

---

(۱) د یادوني وړ ده چي دا (اَنّٰی) د اردو په اکثرو چاپو کي نسته مگر مناسبه دا ده چي (اَنّٰی) په ظرف مکان کي داخل دئ. ۱۲ ن

﴿ حَيْثُ ﴾: دا لفظ اکثره وخت جملې ته مضاف وي لکه: اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ يعني اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوْسِ زَيْدٍ(١).

﴿ قُدَّامُ ﴾ ﴿ خَلْفُ ﴾: دا لکه: قَامَ النَّاسُ قُدَّامُ وَخَلْفُ يعني قُدَّامَهُ وَخَلْفَهُ(٢).

﴿ تَحْتَ ﴾ ﴿ فَوْقَ ﴾: دا لکه: جَلَسَ زَيْدٌ تَحْتَ وَصَعِدَ عَمْرٌو فَوْقُ اَىْ تَحْتَ الشَّجَرَةِ وَفَوْقَ الشَّجَرَةِ مَثَلًا.

﴿ عِنْدَ ﴾: لکه: اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ يعني له زيد سره مال دئ.

﴿ اَيْنَ ﴾ ﴿ اَنّٰى ﴾: دا الفاظ هم د استفهام لپاره راځي لکه: اَيْنَ تَذْهَبُ يعني ته چيري ځې؟ اَنّٰى تَقْعُدُ يعني ته چيري کښېنې؟ د شرط لپاره هم راځي لکه: اَنّٰى تَجْلَسُ اَجْلِسُ يعني چې ته چيري کښېنې هلته زه هم کښېنم. اَنّٰى تَذْهَبُ اَذْهَبُ يعني چيري چې ته ځې هلته زه ځم، او د اَنّٰى كَيْفَ په معنى هم راځي، هغه وخت چې د فعل وروسته راسي لکه دا د قول د الله تعالى: ﴿فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ﴾ اَىْ كَيْفَ شِئْتُمْ يعني تاسي ورسئ خپل کښت ته څنګه چې وغواړی.

﴿لَدٰى﴾ ﴿ لَدُنْ﴾: دا الفاظ د عِنْدَ په معنى راځي او تر منځ يې فرق دا دئ چې په عند کي د يو شي قبضه کېدل کافي وي، هر وخت موجود کېدل ضروري نه وي لکه: اَلْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ يعني له زيد سره

---

(١) ته د زيد د ناستي پر ځاى کښېنه. ١٢ ن

(٢) يعني و مخ ته د ده يا و شا ته د ده. ١٢ ن

مال دئ، که ورسره موجود وي او که په خزانه کي وي. او اَلْمَالُ لَدَىْ زَيْدٍ دا هغه وخت ويل کي چي مال له زيد سره وي، ځکه نو عند عام دئ او لَدَىْ، لَدُنْ خاص دي، ښه فهم ورته وکړه.

١. فايده: قَبْلُ، بَعْدُ، تَحْتُ، فَوْقُ، قُدَّامُ، خَلْفُ، حَيْثُ، قَطُّ، عَوْضُ دا ټول مَبْنِي پر ضمه دي او اَيَّانَ، كَيْفَ، اَيْنَ دا مبني پر فتحه دي او اَمْسِ او دا مبني پر کسره دئ، نور ټول ظروف مبني پر سکون دي.

٢. فايده: غير مبني ظروف چي اذا او يا جملې ته مضاف وي، د هغو پر فتحه مبني کېدل جايز دي لکه د الله جل جلاله دا قول: ﴿هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ﴾ په دې ځای کي د يَوْمُ مفتوح ويل جايز دي لکه: يَوْمَئِذٍ حِيْنَئِذٍ يعني په دې ورځ کي او په دې وخت کي.

اسماء كنايات

دا هغه اسم دئ چي پر يو مبهم شي دلالت کوي لکه: كَمْ، كَذَا دا الفاظ له يوه عدد څخه کنايه دي او كَيْتَ، ذَيْتَ دا الفاظ بيا له خبري څخه کنايه دي. مرکب بنايي لکه: اَحَدَ عَشَرَ(١).

---

(١) د عشر د شين د حرکت او سکون اړوند ښه فائده مخکي ليکل سوې ده، هغه پيدا کول او يادول لازمي او اړين دي. ١٢ ن

شپږم فصل

اِسْمُ مَنْسُوْبٍ

اسم منسوب هغه ته وايي چي د اسم په آخر کي ياء مشدده وي او د هغه مخکي د کسرې په زياتوب سره اسم جوړيږي.

د اسم په آخر کي چي نسبتي ياء وي، له دې څخه دا معلوميږي چي له هغه سره د يو شي تعلق دئ لکه بَغْدَادِيٌّ يعني د بَغْدَاد اوسېدونکی، يا د بَغداد پيدا جوړ شی او هِنْدِيٌّ د هند اوسېدونکی يا د هند جوړ شی، صَرْفِيٌّ يعني د صرفو په علم پوه او نَحْوِيٌّ د نحوي په علم پوه.

لاندي د نسبت په اړه يو څو ضروري قاعدې دي:

۱. که الف مقصوره د کلمې درېيم يا څلورم حرف جوړ سي، هغه په واو سره بدليږي لکه: عِيْسٰى په عِيْسَوِيٌّ سره، مَوْلٰى په مَوْلَوِيٌّ[1] سره، که الف مقصوره په پنځم حرف جوړ سي نو هغه ليري کيږي لکه له مُصْطَفٰى څخه مُصْطَفِيٌّ.

۲. د الف ممدوده دوهم الف په واو سره بدليږي لکه له سَمَاءٌ څخه سَمَاوِيٌّ او له بَيْضَاءٌ څخه بَيْضَاوِيٌّ.

---

(۱) له همدې ځای څخه د مولوي معنی زده کړئ، چي د ياء نسبت يې و مولی ته سوی دئ، مولی عام دئ وبادار ته وايي او مُلا خو ښه معنی لري يعني ډک له مسائلو او معلوماتو، کما في المنجد والفتاوی الفريدية. ۱۲ ن

۳. په کوم اسم چي یاء مشدده له مخکي څخه وي، هلته د نسبتي یاء راوړلو هیڅ ضرورت نسته لکه: شَافَعِيٌّ چي د یو امام نوم دئ او د د شافعي په مذهب خلکو شافعي ته هم وايي.
۴. په هغه اسم کي چي د تانیث تاء وي هغه د نسبت پر وخت لیري کیږي لکه له كُوْفَةٌ څخه كُوْفِيٌّ او له مَكَّةٌ څخه مَكِّيٌّ همداسي هغه اسم چي د فَعِيْلَةٌ او فُعَيْلَةٌ پر وزن وي د هغه تاء هم لیري کیږي لکه له مَدِيْنَةٌ څخه مَدَنِيٌّ او له جُهَيْنَةٌ څخه جُهَنِيٌّ.
۵. چي کوم اسم د فَعِيْلٌ پر وزن وي او په آخر کي یې یاء مشدده وي، اول به یاء په واو سره بدلیږي او واو ماقبل ته به فتحه ورکول سي، په آخر کي به یاء نسبتي راوړل سي لکه له عَلِيٌّ څخه عَلَوِيٌّ او نَبِيٌّ څخه نَبَوِيٌّ.
٦. که یاء څلورم ځای د کسرې وروسته راسي نو دا یاء لیري کوي او د واو سره بدلوي دواړه جایز دي لکه له دِهْلِیْ څخه دِهْلَوِيٌّ.
۷. که حرفي اصلي د یو اسم له آخر څخه لیري سوی وي، د نسبت په وخت کي هغه بیرته راوړل کیږي لکه له اَخٌ څخه اَخَوِيٌّ له اَبٌ څخه اَبَوِيٌّ او له دَمٌ څخه دَمَوِيٌّ.
۸. د ځینو الفاظو نسبت د قیاس خلاف راځي لکه له نُوْرٌ څخه نُوْرَانِيٌّ له حَقٌّ څخه حَقَانِيٌّ له رَیْ څخه رَازِيٌّ او له بَادِيَةٌ څخه بَدَوِيٌّ.

اووم فصل

اِسْمُ تَصْغِيرٍ

په کوم اسم کي چي د کوچنيوالي او سپکاوي معنی وي، هغه ته اسم تصغير وايي.

د اسم تصغير څو مهمي قاعدې:

۱. د درو حرف لرونکي اسم تصغير د فُعَيْلٌ پر وزن راځي لکه له رَجُلٌ څخه رُجَيْلٌ او له عَبْدٌ څخه عُبَيْدٌ.

۲. د څلور حرف لرونکي اسم تصغير د فُعَيْعِلٌ پر وزن راځي لکه له جَعْفَرٌ څخه جُعَيْفِرٌ.

۳. د پنځه حرف لرونکي اسم تصغير د فُعَيْعِيْلٌ پر وزن راځي، په دې شرط چي پنځم حرف به يې مدلين وي لکه له قِرْطَاسٌ څخه قُرَيْطِيْسٌ که څلورم حرف مدلين نه وي نو هغه پنځم حرف ليري کيږي او تصغير يې د فُعَيْعِلٌ پر وزن راځي لکه له سَفَرْجَلٌ څخه سُفَيْرِجٌ.

۱. فايده: د سماعي مونث ة په تصغير کي ښکاره کيږي لکه د اَرْضٌ تصغير چي اُرَيْضَةٌ او د شَمْسٌ تصغير شُمَيْسَةٌ راځي.

۲. فايده: که د کوم اسم وروسته حرف حذف سوی وي، نو د تصغير په صورت کي هغه بيرته ورسره يو ځای کيږي لکه د اِبْنٌ تصغير چي بُنَيٌّ دئ، ځکه چي اِبْنٌ په اصل کي بَنْوٌ وو.

اتم فصل

معرفه او نکره

اسم د عام او خاص په اعتبار پر دوه ډوله دئ معرفه او نکره:

اول معرفه: هغه اسم ته وايي چي د يو خاص شي لپاره جوړ سوی وي او معرفه پر اووه ډوله ده:

١. **ضمير:** دا هغه اسم ته وايي چي د نوم پر ځای استعماليږي لکه: هُوَ، اَنْتَ، اَنَا، نَحْنُ.

٢. **علم:** دا هغه اسم ته وايي چي د يو خاص ښار، يا د يو خاص سړي او يا د يو خاص شي نوم وي لکه: زَيْدٌ، دِهْلِيٌ، زَمْزَمٌ.

٣. اسم اشاره: دا هغه اسم ته وايي چي د هغه په مرسته ته د يو خاص شي و خوا ته اشاره وکړي لکه: هٰذَا، ذٰلِكَ.

٤. اسم موصول: دا هغه اسم ته وايي چي له صلې سره يو ځای د جملې برخه وګرځي لکه: اَلَّذِيْ، اَلَّتِيْ.

٥. معرفه باللام: دا هغه اسم ته وايي چي پر نکره باندي د لام داخلېدو سره معرفه ځني جوړه سي لکه: اَلرَّجُلُ.

٦. هغه اسم چي له دغو پنځو څخه يوه ته مضاف سي، چي مثالونه يې په ترتيب سره په لاندي ډول دي:

غُلَامُهُ، فَرَسُكَ، كِتَابِيْ، غُلَامُ زَيْدٍ، سَاكِنُ الدَّهْلِيْ، مَاءُ زَمْزَمَ، كِتَابَ هٰذَا، فَرَسُ ذٰلِكَ، غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدَكَ، بِنْتُ الَّتِيْ ذَهَبَتْ، قَلَمُ الرَّجُلِ.

۷. معرفه په نداء سره: دا هغه اسم ته وايي چي د ږغ له امله معرفه ځني جوړه سي لکه: يَا رَجُلْ چي په دې کي ياء د نداء حرف دئ او رَجُلْ يې منادي ده.

دوهم نکره: دا هغه اسم ته وايي چي د کوم نامعلومه يعني عام شي لپاره جوړ وي لکه: فَرَسٌ چي د کوم خاص آس نوم نه دئ، بلکي په عربي ژبه کي هر آس ته فَرَسٌ وايي او چي کله فَرَسُ زَيْدٍ يا فَرَسُ هٰذَا وويل سي نو بيا خاص معرفه سوه.

نهم فصل

مذکر او مُؤَنَّث

د جنس په اعتبار اسم پر دوه ډوله دئ مذکر او مونث:

۱. مذکر: دا هغه اسم ته وايي چي د تانيث هيڅ لفظي او تقديري نښه پکښي نه وي لکه: رَجُلٌ، فَرَسٌ.

۲. مونث: دا هغه اسم ته وايي چي تانيث لفظي او تقديري نښه پکښي وي، د نښي په اعتبار مونث پر دوه ډوله دئ قياسي او سماعي:

۱. قياسي مونث: دا هغه مونث ته وايي چي د تانيث علامه يې په الفاظو کي موجوده وي، د لفظي تانيث علامې درې دي:

۱. حقيقي ة وي لکه په طَلْحَةُ کي چي حقيقي ة ده، يا حکمًا وي لکه

د عَقْرَبُ په څلورم حرف کي چي تانيث ة حکمًا ده.
۲. مقصوره زائده الف لکه په حُبْلٰى، صُغْرٰى، کُبْرٰى کي چي دي.
۳. ممدوده الف، لکه په حَمْرَاءُ، بَيْضَاءُ کي چي دي.
۲. سماعي مونث: دا هغه مونث ته وايي چي د تانيث نښه پکښي پټه وي لکه په اَرْضٌ، شَمْسٌ چي پټه ده، چي اصل يې اَرْضَةٌ وَشَمْسَةٌ وو، ځکه تصغير يې اُرَيْضَةٌ وَشُمَيْسَةٌ راځي، له تصغير څخه د شي اصلي حالت څرګنديږي، داسي مونث ته سماعي مونث وايي، چي ښکاره پکښي ة نه وي، خو په اصل کي يې پيدا کيږي.
د ذات په اعتبار مونث پر دوه ډوله دئ، حقيقي او لفظي:
۲. حقيقي مونث: دا هغه مونث دئ چي د نارينه ساکښ په مقابله کي کاريږي بل دا چي د تانيث نښه پکښي موجوده وي، يعني د تانيث ة پکښي وي لکه په اِمْرَأَةٌ کي چي ده او د رَجُلٌ په مقابل کي استعماليږي، يا لکه: اَتَانٌ چي خرې ته ويل کيږي او په مقابل کي يې حِـمَارٌ استعماليږي چي دا خره ته وايي.
۲. لفظي مونث: دا هغه ته وايي چي په مقابل کي يې نارينه ساکښ نوم استعماليږي لکه: ظُلْمَةٌ، عَيْنٌ چي لفظي مونث نومونه دي خو په مقابل کي يې نارينه ساکښ نوم نه استعماليږي او د دې نومونه تصغير عُيَيْنَةٌ راځي.

لسم فصل

واحد، تثنيه او جمع

د عدد (شمېر) په اعتبار اسم پر درې ډوله دئ، واحد، تثنيه او جمع:

۱. **واحد:** هغه اسم ته وايي چې پر يوه باندې دلالت کوي لکه: رَجُلٌ چې يوه سړي ته وايي او يا اِمْرَأَةٌ چې يوې ښځې ته وايي.

۲. **تثنيه:** دا هغه اسم ته وايي چې پر دوو باندې دلالت کوي، له واحد څخه تثنيه داسې جوړېږي چې د واحد صيغې په آخر کې کسره لرونکي نون او له نون څخه مخکې ياء، يا زور (زبر) لرونکې الف او کسره لرونکې نون ور زيات سي، نو په دې سره له واحد څخه تثنيه جوړېږي لکه: رَجُلَانِ، رَجُلَيْنِ.

۳. **جمع:** هغه ته وايي چې تر دوو په زياتو شيانو باندې دلالت کوي او په واحد کې د لږ تغير په را منځته کولو سره له واحد څخه جمع جوړېږي او دغه زياتوب کله په الفاظو کې وي لکه په رِجَالٌ، مُسْلِمُوْنَ دوارو کې چې دئ، يا تقديرًا وي لکه: فُلْكٌ چې د قُفْلٌ پر وزن دئ او يوې کښتۍ ته وايي او فُلْكٌ پر وزن د اُسْدٌ ډېرو کښتيو ته ويل کېږي.

فايده: د نړۍ په ټولو ژبو کې صرف واحد او جمع وي، خو عربي ژبه ځانګړتيا هم لري، چې يو، دوه او جمع لري، يعني د جمع اطلاق پر

دروا و تر درو څخه زياتو باندې کيږي[1].

د جَمْعِ اَقْسَام

د لفظ په اعتبار جمع پر دوه ډوله ده: ۱. مکسره ۲. سالمه:

۱. مکسره جمع: هغې جمعې ته وايي چې د واحد صيغه پکښې سالمه نه وي پاته لکه په رِجَالٌ کې، چې د واحد صيغه رَجُلٌ سالمه نه ده پاته، بلکې په منځ کې يې، د الف په راتلو سره، په حروفو په ترتيب بدلون رامنځ ته سوی دئ، دې ته تکسير جمع هم وايي.

۲. سالمه جمع: هغې جمعې ته وايي چې د واحد صيغه پکښې سالمه پاته وي، چې هغه په خپله پر دوه ډوله ده:

۱. مذکر سالمه جمع: دا هغې جمعې ته وايي چې له واو څخه مخکې پکښې ضمه وي او وروسته يې فتحه لرونکی نون وي لکه: مُسْلِمُوْنَ او يا مخکې يې کسره لرونکې ياء وي او وروسته يې فتحه لرونکی نون وي لکه: مُسْلِمِيْنَ.

۲. مونث سالمه جمع: هغه جمعې ته وايي چې په آخر کې يې الف او د تانيث ة راغلې وي لکه: مُسْلِمَاتٌ.

د معنې په اعتبار جمع پر دوه ډوله ده:

۱. د قلت جمع. ۲. د کثرت جمع

د قلت جمع: دا هغه جمع ده چې تر لسو يې پر لږو اطلاق کيږي او

---

(۱) دا د عربي ژبې فصاحت او امتياز دئ. ۱۲ ن

دا ډول جمع ځلور وزنونه لري.
اَفْعَلٌ لکه: اَکْلَبٌ چي جمع د کَلْبٌ ده.
اَفْعَالٌ لکه: اَقْوَالٌ چي جمع د قَوْلٌ ده.
اَفْعِلَةٌ لکه: اَطْعِمَةٌ چي جمع د طَعَامٌ ده.
فِعْلَةٌ لکه: غِلْمَةٌ چي جمع د غُلَامٌ ده.
او سالمه جمع هم له الف لام بغير د قلت په جمع کي حساب کيږي لکه: عَاقِلُوْنَ، عَاقِلَاتٌ.

د کثرت جمع: دا هغه جمعي ته وايي چي پر لسو تر لسو زياتو حروفو باندي يې اطلاق کيږي، دا جمع جلا وزنونه لري، چي لس مشهوره وزنونه يې په لاندي ډول دي:

وزن	واحد	جمع	وزن	واحد	جمع
١. فِعَالٌ	عَبْدٌ	عِبَادٌ	٦. فُعَّالٌ	خَادِمٌ	خُدَّامٌ
٢. فُعَلَاءُ	عَالِمٌ	عُلَمَآءُ	٧. فَعْلٰى	مَرِيْضٌ	مَرْضٰى
٣. اَفْعِلَاءُ	نَبِيٌّ	اَنْبِيَآءُ	٨. فَعَلَةٌ	طَالِبٌ	طَلَبَةٌ
٤. فُعُلٌ	رَسُوْلٌ	رُسُلٌ	٩. فِعَلٌ	فِرْقَةٌ	فِرَقٌ
٥. فُعُوْلٌ	نَجْمٌ	نُجُوْمٌ	١٠. فِعْلَانٌ	غُلَامٌ	غِلْمَانٌ

فايده: د ځلور او پنځه حرف لرونکو نومونو جمع اکثره د منتهى الجموع پر وزن راځي او دا هم دري مشهوره وزنونه دي، چي په لاندي ډول دي:

مَفَاعِلُ لکه له مَسْجِدٌ څخه مَسَاجِدُ.
مَفَاعِيْلُ لکه له مِفْتَاحٌ څخه مَفَاتِيْحُ.
فَعَائِلُ لکه له رِسَالَةٌ څخه رَسَائِلُ.

منتهی الجموع: دا هغه جمع ده چي د جمعې تر الف وروسته دوه حرفه وي لکه: مَسَاجِدُ یا یو شد لرونکی حرف وي لکه: دَوَابٌّ یا درې حرفه وي خو په دې شرط چي د منځ حرف به يې ساکن وي لکه: مَفَاتِيْحُ.

۱. فایده: ځيني جمعي داسي هم وي چي له پيل څخه يې په جمع کي د واحد لفظ نه راځي لکه د اِمْرَأَةٌ جمع چي نِسَاءٌ [1] ده او د ذُوْ جمع چي اُوْلُوْ ده.

۲. فایده: ځيني وخت واحد د جمعي اسم معنی هم ورکوي لکه: قَوْمٌ، رَهْطٌ، رَكْبٌ دې ته جمع اسم هم وايي.

۳. فایده: د ځينو الفاظو جمع د قياسي پر عکس هم راځي لکه د اُمٌّ جمع اُمَّهَاتٌ، د فَمٌ جمع اَفْوَاهٌ، د مَاءٌ جمع مِيَاهٌ، د اِنْسَانٌ جمع اُنَاسٌ او د شَاةٌ جمع شِيَاةٌ.

---

(۱) امرأة داسي مفرد صيغه ده چي په خپلو حروفو جمع نه لري بلکي د جمعي پر ځای نساء ورته استعماليږي او نساء بیا داسي صيغه ده چي په خپلو حروفو مفرد نه لري، بلکي د مفرد پر ځای د امرأة صيغه ورته استعماليږي. ۱۲ ابو الاخلاص

يوولسم فصل

مُنْصَرِف او غَيرْ مُنْصَرِف

معرب اسم پر دوه ډوله دئ:

١. مُنْصَرِفٌ. ٢. غَيرَ مُنْصَرِفٌ

١. منصرف: هغه اسم ته وايي چي د منع صرف له اسبابو څخه کوم سبب نه وي پکښې او درې سره حرکتونه[١] او تنوين[٢] پر رائحي لکه: زَيْدٌ.

٢. غير منصرف: هغه اسم ته وايي چي د منع صرف دوه سببونه پکښې راغلي وي او يا يو پکښې راغلی وي خو د دوو پر ځای کار کوي همدا سي کسره او تنوين نه پر رائحي.

د منع صرف ټول نهه (٩) اسباب دي، چي په لاندي ډول دي:

١. عدل ٢. وصف ٣. تانيث ۴. معرفه ۵. عجمه ۶. جمع ٧. ترکيب ٨. وزن فعل ٩. الف او نون زائدتان، چي مجموعه يې په لاندي شعرو کي ذکر سوي ده:

عَدْلٌ وَّوَصْفٌ وَّتَانِيْثٌ وَّمَعْرِفَةٌ وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيْبٌ

وَالنُّوْنُ زَائِدَةٌ مِّنْ قَبْلِهَا اَلِفٌ وَوَزْنُ فِعْلٍ وَهٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ

د هر يوه سبب جلا جلا مثال:

١. په عُمَرُ کي دوه سببه دي، عدل او معرفه

---

(١) درې حرکتونه: لکه رفع، نصب او جر. ١٢ ن

(٢) تنوين: لکه دوه زبره: ـً ، دوه زېره: ـٍ ، دوه پېښه: ـٌ .

۲. په ثُلَاثُ کې دوه سببه دي، وصف او عدل
۳. په طَلْحَةُ کې دوه سببه دي، تانيث او معرفه
۴. په زَيْنَبُ کې دوه سببه دي، معرفه او تانيث
۵. په اِبْرَاهِيْمُ کې دوه سببه دي، عجمه او معرفه
۶. په مَسَاجِدُ کې دوه سببه دي، جمع او منتهی الجموع(۱).
۷. په بَعْلَبَكَّ کې دوه سببه دي، ترکيب او معرفه
۸. په اَحْمَدُ کې دوه سببه دي، د فعل وزن او معرفه
۹. په سَكْرَانُ کې دوه سببه دي، الف او نون زائدتان او وصف.

فايده: د نحويانو په اصطلاح کې عدل دې ته وايي چې يو اسم له خپل اصلي صيغې څخه بلې صيغې ته واوړي، چې دا هم پر دوه ډوله دي:

۱. تحقيقي عدل. ۲. تقديري عدل

۱. تحقيقي عدل: دا هغه ته وايي چې په حقيقت کې يې هيڅ اصل نه وي لکه: ثُلٰثُ چې معنی يې ده (درې، درې) له دې څخه معلومه سوه چې دا په اصل کې ثَلَاثَةٌ، وَثَلَاثَةٌ وو.

۲. تقديري عدل: دا هغه ته وايي چې په حقيقت کې يې څه اصل نه وي، بلکې فرض کړل سوی وي لکه: عُمَرُ چې دا لفظ په عربي ژبې کې غير منصرف کارېږي، سره له دې چې د غير منصرف صرف يو د معرفې سبب پکښې دئ، د استعمال له امله يې اصل عَامِرٌ فرض

(۱) په اصل کې يو سبب دئ، د دوو سببو پر ځای ولاړ دئ. ۱۲ ن

کړل سو.

١. فایده: عجمه هغه لفظ دئ چي له عربي پرته په بله ژبه کي علم وي او له درو حروفو څخه زیات وي لکه: اِبْرَاهِیْمُ یا هم درې حرفي وي خو د منځ حرف یې متحرک وي لکه شَتَرُ چي د یوې قلعې نوم دئ.

٢. فایده: الف او نون زائدتان، چي د اسم په آخر کي وي، نو شرط یې دا دئ چي هغه اسم به عَلَم وي لکه: عُثْمَانُ وَعِمْرَانُ وَسَلْمَانُ او سَعْدَانٌ غیر منصرف نه دئ، ځکه چي علم نه دئ، بلکي د ځنګل وښو ته ویلای سي.

که الف او نون زائدتان د وصف په آخر کي راسي شرط یې دا دئ چي د هغه مونث به د فَعْلَانَةٌ پر وزن نه وي، نو سَکْرَانُ غیر منصرف دئ، ځکه مونث یې سَکْرَانَةٌ نه راځي او نَدْمَانٌ منصرف دئ ځکه چي مونث یې نَدْمَانَةٌ راځي[1].

٤. له وزن فعل څخه مراد دا دئ چي یو اسم د فعل پر خاص وزن راسي لکه: اَحْمَدُ چي پر وزن د اَفْعَلُ راسي[2].

٥. کله چي پر غیر منصرف الف لام داخل سي یا یې اضافت وسي، کسره پر راتلای سي لکه:

صَلَّیْتُ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ، وَذَهَبْتُ اِلَى الْمَقَابِرِ.

---

(١) چي پر وزن د فَعْلَانَةٌ دئ. ١٢ ن

(٢) شَمَرُ او ضَرَبٌ چي د چا لپاره نومونه سي او که د فعل پر خاص وزن نه وي، نو په پیل کي یې د مضارعت له څلورو حروفو څخه یو حرف راسي لکه: اَحْمَدُ، نَرْجَسُ، تَغْلَبُ، یَشْکُرُ چي دا د اَفْعَلُ، نَفْعَلُ، تَفْعَلُ، یَفْعُلُ پر وزنو دي. ١٢ ن

دوولسم فصل

مرفوعات

مرفوعات اته دي:

١. فاعل
٢. مفعول ما لم يسم فاعله
٣. مبتداء
۴. خبر
۵. د ان او داسي نورو خبر
٦. د ما او لا اسم
٧. د كان او داسي نورو اسم
٨. د لائي نفي جنس خبر

١. فاعل: دا هغه اسم دئ چي تر فعل مخكي راغلى وي او فعل ورته د قيام پر طريقه منسوب وي، يعني دغه فعل له دې اسم څخه صادر سوى وي لكه: قَامَ، زَيْدٌ، ضَرَبَ، عَمْرٌو.

فاعل پر دوه ډوله دئ:

١. ظاهر (ښكاره). ٢. مضمر (پټ).

١. د ښكاره اسم فاعل مثال: قَامَ زَيْدٌ چي په دې كي زَيْدٌ فاعل دئ او ښكاره اسم دئ او په ضَرَبْتُ كي فاعل ضمير دئ.

٢. مضمر فاعل: دا هم پر دوه ډوله دئ:

١. بارز. ٢. مستتر

١. بارز: دا هغه دئ چي په فعل ښكاره ښتى وي لكه:
ضَرَبْتَ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُمْ، ضَرَبْتِ، ضَرَبْتُمَا، ضَرَبْتُنَّ، ضَرَبْتُ، ضَرَبْنَا، ضَرَبَا، ضَرَبُوْا، ضَرَبَتَا، ضَرَبْنَ.

۲. ضمیر مستتر: لکه په ضَرَبَ کې هُوَ او په ضَرَبَتْ کې هِیَ.
همداسې په یَضْرِبُ د مضارع واحد مذکر غایب کې هُوَ په تَضْرِبُ واحد مونث غایبه کې هِيَ، په تَضْرِبُ واحد مذکر مخاطب کې اَنْتَ او اَضْرِبُ واحد متکلم کې اَنَا، نَضْرِبُ متکلم مع الغیر کې د نَحْنُ ضمیرونه مستتر دي.
د تثنیې ثلورو صیغو یَضْرِبَانِ، تَضْرَبَانِ او داسې نورو کې الف او یَضْرِبُوْنَ، وَتَضْرِبُوْنَ کې واو، یَضْرِبْنَ، تَضْرِبْنَ کې نون او په تَضْرِبِیْنَ کې یاء بارز ضمیرونه دي.
فایده: کله چې د فعل فاعل ښکاره مونث حقیقي وي او د فعل او فاعل په منځ کې څه فاصله نه وي یا د فعل فاعل د مونث حقیقي ضمیر وي، نو په دواړو صورتونو کې د فعل مونث راوړل ضروري دي لکه: قَامَتْ هِنْدٌ او هِنْدٌ قَامَتْ.
ترکیب: د هِنْدٌ قَامَتْ په دې ډول دئ: هِنْدٌ مبتداء، قَامَتْ فعل دئ، په دې کې هِیَ مستتر دئ، هغه فاعل او فعل سره له خپل فاعله جمله فعلیه خبریه خبر د مبتداء، مبتداء سره د خبره جمله اسمیه خبریه جوړه سوه.
کله چې فاعل ښکاره مونث حقیقي وي او د فعل او فاعل تر منځ فاصله وي یا فاعل ښکاره مونث غیر حقیقي وي یا فاعل ښکاره جمع مکسره وي، نو په دې صورتونو کې د فعل مذکر او مونث راوړل دواړه جایز دي لکه: ﴿قَرَأَ الْيَوْمَ هِنْدٌ﴾ او ﴿قَرَأَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ،

طَلَعَ الشَّمْسُ وَطَلَعَتِ الشَّمْسُ، قَالَ الرِّجَالُ وَقَالَتِ الرِّجَالُ﴾.
٢. فايده: كله چي فاعل اسم ظاهر ښكاره اسم وي، نو فعل به د تل لپاره واحد وي لكه: ﴿ضَرَبَ الرَّجُلُ، ضَرَبَ الرَّجُلَانِ، ضَرَبَ الرِّجَالُ﴾ خو كله چي فاعل اسم ظاهر نه وي، بلكي ضمير وي، نو د واحد لپاره به فعل واحد او د تثنيې لپاره به فعل تثنيه او د جمع لپاره به فعل جمع راوړل كيږي لكه: ﴿ اَلْخَادِمُ ذَهَبَ، اَلْخَادِمَانِ ذَهَبَا، اَلْخَادِمُوْنَ ذَهَبُوْا ﴾ خو كله چي فاعل داسي ضمير وي، چي مكسري جمع ته راجع وي، نو فعل واحد مونث او جمع مذكر دواړه راوړل جايز دي لكه: ﴿اَلرِّجَالُ قَامُوْ، اَلرِّجَالُ قَامَتْ ﴾.
مَفْعُوْلٌ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ: هغه مفعول دئ چي د فاعل پر ځای د فعل نسبت ورته سوی وي او فاعل د فعل حذف سوی وي لكه: ﴿ضُرِبَ زَيْدٌ﴾ او په نورو احكامو كي لكه د فعل په تثنيه والي، جمع والي تذكير او تانيث كي د فاعل په ډول دئ لكه په راتلونكو مثالونو كي: ﴿ ضُرِبَتْ هِنْدٌ، وَهِنْدٌ ضُرِبَتْ، ضُرِبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ، وَضُرِبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ، رُئِيَ الشَّمْسُ، وَرُئِيَتِ الشَّمْسُ، ضُرِبَ الرِّجَالُ، وَضُرِبَتِ الرِّجَالُ، ضُرِبَ الرَّجُلُ، ضُرِبَ الرَّجُلَانِ، ضُرِبَ الرِّجَالُ، اَلْخَادِمُ طُلِبَ، اَلْخَادِمَانِ طُلِبَا، اَلْخَادِمُوْنَ طُلِبُوْا، اَلرِّجَالُ ضُرِبُوْا، اَلرِّجَالُ ضُرِبَتْ﴾.
فعل مجهول ته فعل مالم يسم فاعله وايي، يعني داسي فعل چي د فاعل نوم يې معلوم نه وي.
٣. ٤. مبتداء او خبر: هغه دوه اسمونه دي چي له لفظي عامل څخه

خالي وي، چي لومړي ته مبتدا مسند اليه وايي او دوهم ته يې خبر مسند وايي، په دې دواړو کي عامل معنوي دئ لکه: ﴿زَيْدٌ عَالِمٌ﴾.
مبتداء اکثره معرفه راځي خو کله چي نکره وي نو په يوې طريقې به يې تخصيص سوی وي، په غټو کتابونو کي به يې وپېژنئ! او خبر اکثره نکره وي، مثالونه يې دا دي: ﴿زَيْدٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ، وَاللهُ يَعْصِمُكَ، اَلْعَالِمُ اِنْ جَاءَكُمْ فَاَكْرِمُوْهُ، اَللهُ مَعَكُمْ﴾.
کله کله خبر تر مبتداء مخکي هم راځي لکه: ﴿فِى الدَّارِ زَيْدٌ﴾.
٥. د اِنَّ او غيره خبر:

﴿اِنَّ، اَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ﴾

اسم ته نصب او خبر ته رفع ورکوي لکه:

﴿اِنَّ زَيْدًاقَائِمٌ، وَكَاَنَّ عَمْرًوا اَسَدٌ﴾.

٦. د ما او لا اسم: د ما او لا عمل د اِنَّ او اَنَّ خلاف دئ، اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي لکه: ﴿مَا زَيْدٌ قَائِمًا، لاَ رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ﴾.
٧. د کان او داسي نورو اسم: ﴿كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ، مَا بَرِحَ، مَا دَامَ، مَا انْفَكَّ، لَيْسَ، مَا فَتِئَ، مَا زَالَ﴾.
دغه فعلونه اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي لکه: ﴿كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا، صَارَ الْفَقِيْرُ غَنِيًّا﴾.
٨. د لا يي نفي جنس خبر: دا لکه: ﴿لَا رَجُلَ قَائِمٌ﴾.

دیارلسم فصل

منصوبات

منصوبات دوولس (۱۲) دي:

۱. مفعول به	**۲. مفعول مطلق**
۳. مفعول له	**۴. مفعول معه**
۵. مفعول فیه	**٦. حال**
۷. تمییز	**۸. اِنَّ وغیره اسم**
۹. د ما او لا خبر	**۱۰. د لا يي نفي جنس**
۱۱. د کان خبر	**۱۲. مستثنی**

۱. مفعول به: دا هغه اسم دئ چي د فاعل فعل پر واقع وي لکه: ﴿اَکَلَ زَیْدٌ طَعَامًا، شَرِبَ خَالِدٌ مَاءً﴾

ترکیب: ﴿اَکَلَ﴾ فعل، ﴿زَیْدٌ﴾ فاعل، ﴿طَعَامًا﴾ مفعول به، فعل له خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه خبریه جوړه سوه.

فایده: کله د قرینې له امله له مفعول به څخه فعل حذف کېږي هم، لکه یو کوربه چي مېلمه ته د د خوشحالۍ لپاره وایي: ﴿اَهْلًا وَسَهْلًا﴾ یعني ﴿اَتَیْتَ اَهْلًا وَوَطِیْتَ سَهْلًا﴾ یعني ته خپلو لره راغلی یې نه پردو لره او ته نرمي مځکي ته راغلی یې، پر تا هیڅ مشقت او تکلیف نسته، دلته ﴿اَتَیْتَ﴾ او ﴿وَطَیْتَ﴾ حذف دي.

یا یو کس له یو شي څخه وېرول سي، نو ورته وویل سي: ﴿اِیَّاكَ

وَالْاَسَدُ﴾ یعني ﴿اِتَّقِ نَفْسَكَ مِنَ الْاَسَدِ﴾ یعني له زمري څخه ځان وژغوره، په دې ځای کي ﴿اِتَّقِ﴾ فعل حذف دئ، یا چا ته د ږغ کولو په وخت کي هم فعل حذف کیږي لکه: ﴿یَا غَلَامَ زَیْدٍ﴾ یعني ﴿اَدْعُوْ غُلَامَ زَیْدٍ﴾ یعني زه د زید غلام ته اواز کوم، دلته ﴿اَدْعُوْ﴾ فعل حذف دئ، یَا د نداء حرف دئ او ﴿غُلَامُ زَیْدٍ﴾ منادي دئ.

تنبیه: کله چي منادي مضاف سي لکه: ﴿یَا غَلَامَ زَیْدٍ﴾ یا مشابه بالمضاف وي لکه ﴿یَا قَارِئًا کِتَابًا﴾ یعني اې د کتاب لوستونکې!، یا نکره غیر معینه وي لکه: ﴿یَا رَجُلًا خُذْ بِیَدِیْ﴾ نو منصوبه به وي او کله چي منادي مفرد معرفه وي نو پر ضمه به مبني وي لکه: ﴿ یَا زَیْدُ ﴾ که منادي په الف و لام معرفه وي نو د حرف نداء او منادي تر منځ ﴿ اَیُّهَا ﴾ راوړل لازم دي لکه: ﴿ یَا اَیُّهَا الرَّجُلُ ﴾.

په منادي کي ترخیم هم جایز دئ، ترخیم دې ته وایي چي د کلمې له آخر څخه د تخفیف لپاره یو حرف حذف سي لکه په ﴿یَا مَالِكُ﴾ کي ﴿یَا مَالُ﴾ او په ﴿یَا مَنْصُوْرُ﴾ کي ﴿یَا مَنْصُ﴾ وویل سي.

په مرخمه منادي کي اصلي حرکت او ضمه دواړه جایز دي، له دې امله ﴿یَا مَالُ﴾ هم ویلای سو او ﴿یَا مَالِ﴾ هم.

۲. **مفعول مطلق:** هغه مصدر دئ چي تر فعل وروسته واقع وي او د مخکني فعل سره یې معنی یو ډول وي، لکه په ﴿ضَرَبْتُ ضَرْبًا﴾ کي ﴿ضَرْبًا﴾ او په ﴿قُمْتُ قِیَامًا﴾ کي ﴿قِیَامًا﴾ کله د مفعول مطلق د څه قرینې له امله حذف کیږي هم، لکه ته چي یو راتلونکي سړي ته

وايي: ﴿خَيْرَ مَقْدَمٍ﴾ يعني ﴿قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَ مَقْدَمٍ﴾ يعني په خير راغلې.

٣. مفعول له: هغه اسم دئ چي د هغه له امله وروستى مخكي فعل سوى وي لكه: ﴿قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُهُ تَأْدِيْبًا﴾ چي په دې ځاى كي ﴿اِكْرَامًا﴾ او ﴿تَأْدِيْبًا﴾ مفعول له دئ، ځكه پورته كېدل د اكرام او وهل د ادب لپاره سوي دي.

تركيب: ﴿ضَرَبْتُ﴾ فعل سره د فاعل ُضمير مفعول به، تاديبًا مفعول له، فعل له فاعل او دواړو مفعولينو سره جمله فعليه خبريه سوه.

۴. مفعول معه: هغه اسم دئ چي تر واو وروسته واقع وي او دغه واو د مع په معنى سره وي لكه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ وَالْكِتَابَ﴾ يعني زيد له كتاب سره راغلى، ﴿جِئْتُ وَزَيْدًا﴾ يعني زه له زيد سره راغلم.

تركيب: جاء فعل، زيدٌ فاعل واو حرف په معنى د مع او الكتاب مفعول معه، فعل سره له فاعل او مفعول معه جمله فعليه خبريه سوه.

۵. مفعول فيه: هغه زمان او مكان ته وايي چي فعل پكښي واقع سوى وي، دې ته ظرف هم وايي.

ظرف پر دوه ډوله دئ:

١. ظرف زمان. ٢. ظرف مكان

ظرف زمان هغه دئ چي د ظرف معنى پكښې وي او ظرف زمان پر دوه ډوله دئ:

١. مبهم. ٢. محدود

ظرف زمان مبهم: هغه دئ چي حد يې معلوم نه وي لکه:

﴿دَهْرٌ، حِيْنٌ﴾.

ظرف زمان محدود: هغه دئ چي حد يې معلوم وي لکه:

﴿يَوْمٌ، لَيْلٌ، شَهْرٌ، سَنَةٌ﴾.

د ظرف زمان مبهم مثال لکه: ﴿صُمْتُ، دَهْرًا﴾ د ظرف زمان مبهم مثال لکه: ﴿سَافَرْتُ شَهْرًا﴾.

ظرف مکان هم پر دوه ډوله دئ:

۱. مبهم. ۲. محدود

ظرف مکان مبهم هغه ظرف ته وايي چي حد يې نه وي معلوم لکه: ﴿اَمَامَ، خَلْفَ﴾ او محدود هغه ته وايي چي حد يې معلوم وي لکه:

﴿دَارٌ، مَسْجِدٌ﴾.

د ظرف مکان مبهم مثال لکه: ﴿جَلَسْتُ خَلْفَكَ وَقُمْتُ اَمَامَكَ﴾ په دې کي تر خلف وروسته او امام مخکي لپاره څه ځانګړی حد نسته، بلکي د دنيا تر هغه بل سره هم کېدای سي.

د ظرف مکان محدود مثال لکه: ﴿جَلَسْتُ فِيْ الدَّارِ وَصَلَّيْتُ فِي الْمَسْجِدِ﴾ په دې کي د دارٌ کور او مسجد لپاره ځانګړی حد لري.

فايده: په ظرف مکان مبهم کي في مقدر وي او په ظرف مکان محدود کي في مذکور وي، دا پنځه سره مفعوله يو شاعر په خپل شعر کي په ښه انداز سره ذکر کړي دي:

حَمِدْتَّ حَمْدًا حَامِدًا وَحَمِيْدًا   رِعَايَةَ شُكْرِهِ دَهْرًا مَدِيْدًا

ترجمه: ما د حامد تعریف له حمید سره وکړ، د هغه د شکر لحاظ مي وکړ، تریوې اوږدې زمانې پورې.

ترکیب: حمدتُ فعل فاعل، حمدًا مفعول مطلق، حامدًا مفعول به واو حرف په معنی د مع او حمیدًا مفعول معه، رعایة مضاف، شکرًا مضاف الیه، بیرته مضاف سو د ه ضمیر ته، د ه ضمیر مضاف الیه سو، مضاف سره له مضاف الیه مضاف الیه سوه او د رعایة مضاف سره له مضاف الیه مفعول له سو، دهرًا موصوف او مدیدًا صفت موصوف سره له صفته مفعول فیه سو، فعل سره له فاعل او ټولو مفعولونو جمله فعلیه خبریه سوه.

٦. **حال:** هغه اسم دئ چي د فاعل یا مفعول او یا د دواړو حال بیانوي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا﴾ زید راغلی په داسي حال کي چي سپور وو، ﴿جِئْتُ زَيْدًا نَائِمًا﴾ زه راغلم زید ته په داسي حال کي چي هغه بیده سو، ﴿كَلَّمْتُ زَيْدًا جَالِسَيْنِ﴾ ما له زید سره خبري وکړې په داسي حال کي چي موږ دواړه ناست وو، په لومړي مثال کي راکبًا د زید حال بیان کړی زیدًا فاعل دئ، په دوهم مثال کي نائمًا د عمرو حال بیان کړ او عمرًوا مفعول به دئ او په درېیم مثال کي جَالِسَيْنِ د تُ او زیدًا دواړو حال بیان کړی، چي تُ ضمیر فاعل دئ او زیدًا مفعول به دئ.

فاعل او مفعول ته ذوالحال وایي او ذوالحال اکثره معرفه وي خو که کله نکره وي نو حال به ځني مخته وي لکه: ﴿جَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ﴾.

حال کله جمله راځي لکه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ، لَقَيْتُ بَكْرًا وَهُوَ جَالِسٌ.

او كله ذوالحال هم راځي لكه: ﴿زَيْدًا اَكَلَ جَالِسًا﴾ په دې كې د اكل فاعل، چې هو دئ او مستتر دئ، ذوالحال واقع سوى دئ.

١. تركيب: ﴿جَاءَ زَيْدٌ رَاكِبًا﴾ جاء فعل، زيدٌ ذوالحال او راكبًا حال دئ، حال سره له ذوالحاله فاعل سو د جاءَ، فعل سره له فاعله جمله فعليه خبريه سوه.

٢. تركيب: ﴿جِئْتُ عَمْرًوا نَائِمًا﴾ جئت فعل فاعل، عمرًا ذوالحال او نائمًا حال دئ، ذوالحال سره له حاله مفعول به سو، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه سوه.

٣. تركيب: ﴿ لَقِيْتُ بَكْرًا وَهُوَ جَالِسٌ ﴾ لقيت فعل فاعل، بكرًا ذوالحال واو حاليه، هو مبتداء جالسٌ خبر، مبتداء سره له خبره جمله اسميه خبريه حال سوه، حال سره له ذوالحاله مفعول به سو، فعل سره له فاعله او مفعول به جمله فعليه خبريه سوه.

٤. تركيب: ﴿ زَيْدٌ اَكَلَ جَالِسًا ﴾ زيدٌ مبتداء اكل فعل، ضمير د هُوَ پكښې ذوالحال، جالسًا حال، ذوالحال سره له حاله فاعل سو، د اكل فعل سره له فاعله جمله فعليه خبريه، خبر د مبتداء باقي ښكاره دئ.

٧. تمييز[1]: هغه اسم دئ چې د شمېر ابهام ليري كړي لكه: ﴿اِشْتَرَيْتُ رِطْلًا زَيْتًا﴾ يعني ما يو رطل د زيتون تيل واخيستل، يا د پيمانې ابهام ليري كړي لكه: ﴿بِعْتُ قَفِيْزَيْنِ بُرًّا﴾ يعني ما دوه قفيزه غنم خرڅ كړل.

(١) د تميز او تمييز اړوند مو ښه كوښښ كړى دئ، هغه تمييز دئ، په دوو ياءګانو سره، كما في (المعجم الوسيط: التمييز: في النحو: اسم يرفع ابهامًا في شيءٍ قبله الخ) وهكذا في (المعجم الرائد) وهكذا في (المنجد). ١٢ ابو الاخلاص

۱. ترکیب: رَأَیْتَ فعل فاعل احد عشر ممیز، کوکبًا تمیز، ممیز سره له تمیزه مفعول به سو، باقي ښکاره دئ.
۲. ترکیب: اشتریت فعل فاعل، رِطْلًا ممیز، زَیْتًا تمیز، ممیز سره له تمیزه مفعول به سو.
۳. ترکیب: بعت فعل فاعل، قَفِیْزَیْنَ ممیز، بُرًا تمیز، ممیز سره له تمیزه مفعول به سو.
۸. د ان او غیره اسم لکه: ﴿اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ﴾.
۹. د ما او لا خبر لکه: ﴿لَا رَجُلٌ ظَرِیْفًا﴾.
۱۰. د لا يي نفي جنس اسم لکه: ﴿لَا رَجُلَ ظَرِیْفٌ﴾.
۱۱. د کانَ او داسي نورو خبر لکه: ﴿کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا﴾.
۱۲. متثنی: دا هغه اسم دئ، چي د استثناء تر حروفو وروسته واقع وي او دا خبره ثرګندوي، چي تر الا وروسته کوم اسم دئ له هغه ثخه استثناء خارج ده چي له الا ثخه مخکني اسم ته يې نسبت سوی وي.
د استثناء حروف اته (۸) دي:
۱. اِلَّا ۲. غَیْرَ ۳. سِوٰی ۴. حَاشَا ۵. خَلَا ۶. عَدَا ۷. مَا خَلَا ۸. مَا عَدَا
له دې حروفو ثخه مخکي چي کوم اسم واقع وي هغه ته مستثنی منه وايي لکه: ﴿جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا﴾ ما لره قوم راغلی وو، دې مثال کي د راتلو نسبت قوم ته سوی دئ او په الا سره زیدًا ځني خارج سوی دئ، نو قوم مستثنی منه او او زید يې مستثنی دئ.
مستثنی پر دوه ډوله ده: ۱. متصله. ۲. منقطعه
مستثنی متصله: هغه ده چي تر استثناء مخکي د مستثنی منه فرد

وي لکه: ﴿جَاءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا﴾ دلته زيد د قوم يو فرد دئ او په الا سره د قوم له حکم څخه وايستل سو.

مستثنی منقطعه: هغه ده چي مستثنی تر استثناء مخکي د مستثنی منه فرد نه وي لکه: ﴿سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ﴾ يعني ملايکو سجده وکړه، مګر شيطان ونه کړه، په دې ځای کي ابليس له ملايکو څخه مستثنی سو، خو د ملايکو فرد نه دئ، بلکي د جناتو پيريانو فرد دئ.

ترکيب: ﴿جَاءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا﴾ جاء فعل، القوم مستثنی منه، الا، حرف استثناء او زيدًا مستثنی دئ، مستثنی سره له مستثنی منه فاعل سو، جاء فعل، فعل سره له فاعله جمله فعليه خبريه سوه.

په بل اعتبار سره مستثنی پر دوه ډوله ده:

١. مفرغ. ٢. غير مفرغ

د مستثنی هغه ډول دئ چي په دغه کلام کي يې مستثنی منه نه وي ذکر لکه: ﴿مَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدًا﴾.

غير مفرغ: د مستثنی هغه ډول دئ چي په همدغه کلام کي يې مستثنی منه ذکر وي لکه: ﴿جَاءَ نِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا﴾.

هغه کلام چي استثنی پکښي وي پر دوه ډوله دئ:

١. موجب. ٢. غير موجب

موجب: هغه کلام دئ چي نفي، نهي او استفهام پکښي نه وي.

غير موجب: هغه کلام دئ چي له دغو درو شيانو څخه يو پکښي موجود وي.

د اِعْراب مستثنی ډولونه

۱. که مستثنی متصل تر الا وروسته په موجب کلام کي واقع وي، نو مستثنی به همېشه منصوبه وي. لکه: جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا.

۲. که غیر موجب کلام وي او مستثنی تر مستثنی منه مخکي وي، نو هم به منصوبه وي. لکه: مَاجَاءَنِی اِلَّا زَيْدًا اَحَدٌ.

۳. مستثنی منقطعه همېشه منصوبه وي لکه: سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ اِلَّا اِبْلِيْسَ.

۴. تر خلا او عدا وروسته د اکثرو علماؤ په نزد مستثنی منصوبه وي. لکه: جَاءَنِی الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا.

۵. تر عدا وروسته مستثنی همېشه منصوبه وي، لکه: جَاءَنِی الْقَوْمُ مَاعَدَا زَيْدًا.

۶. الف: هغه مستثنی چي په غیر موجب کلام کي تر مستثنی منه وروسته راسي، نو په دې کي رفع د بدليت له امله او نصب د استثنی له امله جايز دئ. لکه: مَاجَاءَنِی اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا.

۶. ب: بل دا چي د خپلي مخکنۍ بدل وي، يعني کوم اعراب چي تر الا د مخکني اسم وي، هغه اعراب تر الا د وروسته اسم هم وي. لکه: مَاجَاءَنِی اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ.

۷. که مستثنی مفرغ وي او کلام غیر موجب کي واقع وي، نو د مستثنی اعراب به د عامل مطابق وي، که رافع عامل وو مرفوع به وي، که ناصب عامل وو منصوب به وي او که جاره عامل وو مجرور

به وي. لکه: مَاجَاءَنِي اِلَّا زَيْدًا. مَارَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا. مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ.
٨ - هغه مستثنی چي تر غير سوای، سواءاو حاشا وروسته راسي، نو مجرور به ويل کيږي. لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ. وَسِوٰى زَيْدٍ، وَسِواءَ زَيْدٍ، وَحَاشَا زَيْدٍ،

د غَيْـرَ د لفظ اعراب:

د غَيْرَ اعراب په ټولو صورتونو کي د مستثنی په څېر دئ، لکه څنګه چي مستثنی مرفوع، منصوب او مجروره راتله، نو غير هم د مستثنی په څېر راځي، لکه له لاندي جدول څخه چي څرګنديږي:
١. جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ.دا د مستثنی منفصلي مثال دئ.
٢. سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ غَيْرَ اِبْلِيْسَ.دا د مستثنی منقطي مثال دئ.
٣. مَا جَاءَنِي غير زَيْدِ نِ الْقَوْمُ. کلام غير موجب دئ مستثنی مقدم دئ.
۴. مَا جَاءَنِي اَحَدٌ غَيْرَ زَيْدٍ وَغَيْرُ زَيْدٍ. کلام غير موجب مستثنی منه مذکور دئ، په دې کي دوه صورتونه جائز دي استثناء او بدل
۵. مَا جَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ. مَا رَاَيْتَ غَيْرَ زَيْدٍ. مَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ.
په دې درو مثالونو کي د غير اعراب د عامل مطابق دئ.

د (غَيْـرَ) د لفظ اعراب

لفظ د غير د صفت لپاره دئ خو کله کله د استثناء لپاره هم کاريږي، لکه د الا لفظ چي د استثناء لپاره کاريږي خو کله کله د صفت لپاره هم راځي لکه: ﴿لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا﴾
همدارنګه: ﴿لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ(اَىْ غَيْرُ اللّٰهِ)﴾.

څوارلسم فصل

مَجْرُوْرَات

مَجْرُور اسم پر دوه ډوله دئ:

۱. **هغه چي** د اضافت له امله مجرور وي لکه: ﴿غُلَامُ زَيْدٍ﴾.

۲. **هغه چي** د حرف جر له امله مجرور وي لکه: ﴿بِزَيْدٍ﴾.

فـايده: پر مضاف الف و لام او تنوين نه راځي او د اضافت له امله د تثنيې او جمعي نون غورځيږي لکه: ﴿غَلَامَا زَيْدٍ، فَرَسَا عَمْرٍو، مُسْلِمُوْ مِصْرَ، طَالِبُوْ عِلْمٍ﴾.

۱. فايده: د مضاف اليه د پښتو په معنى کي د زما او خپل کلمې راځي لکه: ﴿غُلَامُ زَيْدٍ﴾ د زيد غلام، ﴿غُلَامِيْ حَاضِرٌ﴾ زما غلام حاضر دئ، ﴿ضَرَبْتُ غُلَامِيْ﴾ ما خپل غلام وواهه.

پنځلسم فصل

د متمکن اسم د اعراب ډولونه

د اعراب د ډولونو شمېر	د اسماء متمکن شمېر	د اسماء متمکن اقسام	د رفع، نصب او جر حالت	مثال[1]
۱	۱ ۲ ۳	اسم مفرد منصرف صحیح لکه ﴿زَیْدٌ﴾ اسم مفرد جاري مجرى صحيح لکه ﴿دَلْوٌ﴾ جمع مکسر منصرف لکه ﴿رِجَالٌ﴾	د رفع په حالت کي ضمه. د نصب په حالت کي فتحه د جر په حالت کي کسره.	جَاءَنِیْ زَیْدٌ هٰذَا دَلْوٌ هُمْ رِجَالٌ رَاَیْتُ زَیْدًا رَاَیْتُ دَلْوًا رَاَیْتُ رِجَالًا مَرَرْتُ بِزَیْدٍ جِئْتُ بِدَلْوٍ قُلْتُ لِرِجَالٍ
۲	۴	جمع مونث سالم لکه: مُسْلِمَاتٌ	د رفع په حالت کي ضمه، د نصب او جر په حالت کي کسره	هُنَّ مُسْلِمَاتٌ رَاَیْتُ مُسْلِمَاتٍ مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ

(۱) دغه جدول ته ښه فکر په کار دئ، تر ښه فکر وروسته سړی په پوهیږي. ۱۲ ن

۳	۵	غير منصرف لکه: ﴿عُمَرُ﴾	د رفع په حالت کي ضمه، د نصب او جر په حالت کي فتحه.	جَاءَ عُمَرُ رَاَيْتُ عُمَرَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ
۴	۶	اسماء سته مکبره چي له ياء متکلم څخه بغير بل اسم ته مضاف وي	د رفع په حالت کي واو، د نصب په حالت کي الف او د جر په حالت کي ياء	جَاءَ اَبُوْكَ رَاَيْتُ اَبَاكَ مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ
فايده: اسماء سته مکبره، يعني هغه شپږ اسمونه چي د تصغير په حالت کي نه وي هغه دا دي: ابٌ، اخٌ، حمٌ، هنٌ، فمٌ، ذومالٍ، که ياء د متکلم طرف ته مضاف وي، نو په دري سره حالاتو کي اعراب يو ډول وي لکه: جَاءَ اَبِيْ رَاَيْتُ اَبِيْ مَرَرْتُ بَاَبِيْ				
۵	۷ ۸ ۹	مثنى لکه رَجُلَانِ کِلَا وَکِلْتَا چي ضمير ته مضاف وي اِثْنَانِ، وَاِثِنْتَانِ	د رفع په حالت کي الف ماقبل مفتوح د نصب او جر په حالت کي ياء ماقبل مفتوح او په آخر کي نون مفتوحه.	جَاءَ رَجُلَانِ جَاءَ کِلَاهُمَا جَاءَ اِثْنَانِ رَاَيْتُ رَجُلَيْنِ رَاَيْتُ کِلَيْهِمَا رَاَيْتُ اِثْنَيْنِ مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ مَرَرْتُ بِکِلَيْهِمَا مَرَرْتُ بِاِثْنَيْنِ.

۶	۱۰ ۱۱ ۱۲	جمع مذكر سالم لكه: مُسْلِمُوْنَ اُوْلُوْ له عِشْرُوْنَ څخه تر تِسْعُوْنِ پوري	د رفع په حالت كي واو ما قبل مضموم. د نصب او جر په حالت كي ياء ما قبل مكسور.	جَاءَ مُسْلِمُوْنَ جَاءَ اُوْلُوْ مَالٍ جَاءَ عِشْرُوْنَ رَجُلًا رَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ رَاَيْتُ اُوْلِيْ مَالٍ رَاَيْتُ عِشْرِيْنَ رَجُلًا مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ مَرَرْتُ بَاُوْلِيْ مَالٍ مَرَرْتُ بِعِشْرِيْنَ رَجُلًا
۷	۱۳ ۱۴	اسم مقصور لكه موسى، له جمع مذكر سالم څخه بغير بل اسم چي ياء متكلم ته مضاف وي	په دري سره حالاتو كي اعراب تقديري وي.	جَاءَ مُوْسٰى جَاءَ غُلَامِيْ رَاَيْتُ مُوْسٰى رَاَيْتُ غُلَامِيْ مَرَرْتُ بِمُوْسٰى مَرَرْتُ بِغُلَامِيْ
۸	۱۵	اسم منقوص چي په آخر كي يي ياء ماقبل مكسور وي	د رفع په حالت كي ضمه تقديري د نصب په حالت كي	جَاءَ الْقَاضِيْ رَاَيْتُ الْقَاضِيَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ.

			فتحه لفظي او د جر په حالت کي کسره تقديري.	
۹	۱۶	جمع مذکر سالم ياء متکلم ته مضاف وي.	د رفع په حالت کي واو، تقديري حالت، د نصب او جر په حالت کي يا ماقبل مکسور.	هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ رَاَيْتُ مُسْلِمِيَّ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ

فايده: ﴿مُسْلِمِيَّ﴾ په اصل کي ﴿مُسْلِمُوْنَ﴾ وو، کله چي يې د متکلم ياء ته اضافت وسو، نو د اضافت له امله نون حذف سو، ﴿مُسْلِمُوْیَ﴾ پاته سو بيا واو او ياء په يوه ځای کي يو ځای سول او يو پکښي ساکن دئ، نو واو په ياء بدل سو او ياء په ياء کي مدغمه سوه، نو ﴿مُسْلِمِيَّ﴾ سو، بيا د ميم ضمه په کسره بدله سوه، نو ﴿مُسْلِمِيَّ﴾ ځني جوړ سو، چي په دې صورت کي يې رفع په تقديري واو سره ده.

فايده: ﴿مُسْلِمِيَّ﴾ په نصبي او جري حالت کي په اصل کي ﴿مُسْلِمِيْنَ﴾ دئ، ځکه د جمع مذکر سالم نصبي او جري حالت کي ياء ماقبل مکسور وي، له دې امله دلته د اضافت د نون د ساقطېدو څخه وروسته واو په ياء سره د بدلولو ضرورت نسته، ځکه د نصبي او جري حالت په وجه له مخکي څخه ياء موجوده ده، له دې امله يوازي ياء په ياء کي مدغمه کړل سوه.

شپاړسم فصل: **توابع**

تابع هغه دوهم اسم دئ چي په اعراب کي د مخکني اسم تابع وي، چي په دې کي لومړي اسم ته متبوع او دوهم اسم ته تابع وايي، تابع پر پنځه ډوله دي:

١. صفت. ٢. تاكيد. ٣. بدل. ۴. عطف بحرف. ۵. عطف بيان

١. صفت: هغه تابع دئ، چي د متبوع ښه يا بد حالت ښکاره کوي لکه: ﴿جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ﴾ په دې مثال کي عالم د رجل يو حال ښکاره کړ، چي هغه علم دئ يا د متبوع د متعلق حال ښکاره کوي لکه: ﴿جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ﴾ په دې کي عالم د رجل تابع دئ او د رجل د متعلق، چي ابوه دئ، د هغه حال يې ښکاره کړ.

صفت پر دوه ډوله دئ:

١. هغه چي د خپل متبوع حال ښکاره کوي

٢. هغه چي د متعلق د متبوع حال ښکاره کوي.

د صفت لومړی ډول په لسو شيانو کي له خپل متبوع سره يو ډول دئ: ١. تعريف ٢. تنكير ٣. تذكير ۴. تانيث ۵. افراد ۶. تثنيه ٧. جمع ٨. رفع ٩. نصب ١٠. جر.

لکه: ﴿عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ، رَجُلَانِ عَالِمَانِ، رِجَالٌ عَالِمُوْنَ، اِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ، اِمْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ، نِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ﴾.

د صفت دوهم ډول په پنځو شيانو کي له متبوع سره موافق وي:

١. تعريف ٢. تنكير ٣. رفع ۴. نصب ۵. جر.

لکه: ﴿جَاءَتْنِيْ اِمْرَأَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا﴾ په دې مثال کې د عالم او امرأة اعراب يو دئ خو عالم د ابنها حالت څرګندوي، ځکه عالم مذکر راوړل سوی دئ.

فايده: کله کله جمله هم د نکرې صفت واقع کيږي خو شرط يې دا دئ چې په دغه جمله کې به ضمير وي، چې همدا نکرې ته راجع وي لکه: ﴿جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ﴾.

ترکيب: ﴿جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ﴾ جاء **فعل** نون وقايه، ياء ضمير د متکلم، مفعول به رجل او عالم صفت، موصوف سره له صفت فاعل سو، **فعل** سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه سوه.

١. **ترکيب:** ﴿جَاءَتْنِيْ اِمْرَأَةٌ عَالِمٌ اِبْنُهَا﴾ جائت **فعل**، نون وقايه، ياء ضمير د متکلم، مفعول به امرأة، موصوف عالم، اسم فاعل ابن مضاف او ها مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه فاعل سو، د عالم، عالم سره له خپل فاعل صفت سو د موصوف لپاره او موصوف سره له صفته فاعل سو، د جائت، جائت **فعل** سره او مفعول به څخه جمله فعليه خبريه جوړه سوه.

٣. **ترکيب:** ﴿جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ﴾ جاء **فعل**، نون وقايه، ياء ضمير د متکلم، مفعول به رجل موصوف ابو، مضاف ه مضاف سره له مضاف اليه، مبتداء عالم خبر، مبتداء سره له خبره جمله اسميه خبريه صفت سو، موصوف سره له صفته فاعل د جاء، **فعل** سره له فاعل او مفعول له جمله فعليه خبريه سوه.

ترکیب یې وکړئ

رَاَیْتُ اِمْرَاَةً عَالِمَةً، مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمَةٍ بِنْتُهُ، جَاءَنِيْ رَجُلٌ مَاتَ اَبُوْهُ، اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا اُسْكُنْ فِيْ تِلْكَ الدَّارِ الْمَفْتُوْحِ بَابُهَا.

۲. تاکید: هغه تابع دئ چې د متبوع حال په شمول یا نسبت کې و ټولو افرادو ته ښه مفید سي، د دې لپاره چې اورېدونکي ته کوم شک پاته نه سي لکه: ﴿جَاءَنِيْ زَيْدٌ زَيْدٌ﴾ په دې کې دوهم زید د لومړي زید تاکید وکړی، چې راتلل زید کړي دي بل چا نه دي کړي، یا لکه: ﴿جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ﴾ په دې کې کلهم چې قوم تاکید دئ، چې د قوم شمول ثابتوي، چې راتلل ټول قوم کړي دي او څوک ځني پاته نه دئ.

تاکید پر دوه ډوله دئ:

۱. لفظي. ۲. معنوي

۱. تاکید لفظي: دا د تاکید هغه ډول دئ چې د یوه لفظ په دوه ځله ویلو سره را منځته سوی وي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ زَيْدٌ﴾.

۲. معنوي تاکید: د تاکید هغه ډول دئ چې په اتو لفظو سره رامنځته سوی وي لکه:

نَفْسٌ، عَيْنٌ، كِلَا و كِلْتَا، كُلٌّ، اَجْمَعُ، اَكْتَعُ، اَبْصَعُ، اَبْتَعُ.

نفس، عین: دا دواړه لفظونه د واحد تثنیې او جمعې د درې سره د تاکید لپاره راځي خو په دې شرط چې ضمیرونه او صیغې یې بدلي

کړل سي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ نَفْسُهُ، جَاءَ الزَّيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا، جَاءَ الزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ﴾.

عين هم په کارېدلو کي د نفس په څېر دئ لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ عَيْنُهُ ...﴾، کلا د تثنيه مذکر او کلتا د تثنيه مونث د تاکيد لپاره راځي لکه: ﴿جَاءَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا، جَاءَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا﴾.

کل، اجمع: دا دواړه د واحد او جمعي د تاکيد لپاره راځي لکه: ﴿قَرَأْتُ الْكِتَابَ كُلَّهُ، جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ، اِشْتَرَيْتُ الْفَرَسَ اَجْمَعَهُ، جَاءَ النَّاسُ اَجْمَعُوْنَ﴾.

اَكْتَعُ، اَبْتَعُ، اَبْصَعُ: د اجمع تابع دي، يعني د اَجْمَعُ پرته نه راځي او نه پرې مقدم کېداس سي لکه:

﴿جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اَكْتَعُوْنَ، اَبْتَعُوْنَ اَبْصَعُوْنَ﴾.

ترکيب: جاء فعل، القوم موکد، کل مضاف، هم مضاف اليه، مضاف سره له مضاف اليه تاکيد، اجمعون دوهم تاکيد، موکد سره له تاکيدونو فاعل سو، نور ترکيب ښکاره دي.

ترکيب يې وکړئ

سَجَدَ الْمَلٰئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ، رَاَيْتُ الْاَمِيْرَ نَفْسَهُ.

۳. بدل: هغه تابع دئ چي په نسبت سره متبوع ته مقصود دا وي او متبوع يې مقصود نه وي.

بدل پر څلور ډوله دئ:

۱. بَدَلُ الْكُل. ۲. بَدَلُ الْبَعْض. ۳. بَدَلُ الْاِشْتِمَال. ۴. بَدَلُ الْغَلَط.

بدل الکل: هغه بدل دئ چي د بدل او مبدل منه مصداق يو وي لکه: ﴿جَاءَنِیْ زَيْدٌ اَخُوْكَ، قَرَأْتُ الْكِتَابَ رَوْضَةَ الْاَدَبِ﴾.

بدل البعض: هغه بدل دئ چي د بدل مدلول د مبدل منه د بدل يوه برخه وي لکه: ﴿ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ﴾.

بدل الاشتمال: هغه بدل دئ چي د مبدل منه له مدلول سره يې تعلق وي لکه: ﴿سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ، سُرِقَ عَمْرٌو مَالُهُ﴾.

بدل الغلط: هغه تابع دئ چي د غلطۍ وروسته ذکر کيږي لکه: ﴿اِشْتَرَيْتُ فَرَسًا حِمَارًا﴾ يعني ما آس واخيستی، نه خر، ﴿جَاءَنِیْ زَيْدٌ جَعْفَرٌ﴾ ما لره زيد راغلی نه جعفر.

۴. **عطف بحرف:** هغه تابع دئ چي تر حرف عطف وروسته راسي او کوم نسبت چي متبوع ته سوی وي، هغه نسبت تابع ته هم وسي، متبوع ته معطوف عليه او تابع ته معطوف وايي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو﴾ لکه څنګه چي د جاء نسبت د زيد طرف ته دئ، همدارنګه د حرف عطف په واسطه عمرو ته هم دئ.

۵. **عطف بيان:** هغه تابع دئ چي صفت نه وي او د خپل متبوع وضاحت کوي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٌو﴾ عطف بيان کله د متبوع په مشهور نوم سره کيږي لکه: ﴿جَاءَ اَبُوْ ظَفَرٍ عَبْدُ اللهِ﴾ يعني ابو ظفر راغلی، چي د عبد الله په نامه مشهور دئ. او کله چي په کنيه سره کيږي لکه: ﴿جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو﴾.

١. ترکیب: ﴿جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ﴾ جاء فعل، نون وقایه، یاء متکلم مفعول به، زید مبدل منه، اخو مضاف، ك مضاف الیه، مضاف سره له مضافه الیه بدل، مبدل منه سره له بدل فاعل سو، د جاء باقي ښکاره دي.

٢. ترکیب: ﴿ضُرِبَ زَيْدٌ رَاْسُهُ﴾ ضرب فعل مجهول، زید مبدل منه، راس مضاف ه مضاف الیه، مضاف سره له مضاف الیه بدل سو، مبدل منه سره له بدله مفعول مالم یسم فاعله سو، باقي ښکاره دي.

٣. ترکیب: ﴿اِشْتَرَيْتُ فَرَسًا حِمَارًا﴾ اشتریت فعل، فرسًا مبدل منه، حمارًا بدل، مبدل منه سره له بدله مفعول به سو، اشتریت فعل سره له فاعله او مفعول به جمله فعلیه خبریه سوه.

۴. ترکیب: ﴿جَاءَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو﴾ جاء فعل، زید معطوف علیه، واو حرف عطف او عمرو معطوف، معطوف علیه سره له معطوفه فاعل سو، د جاء فعل سره د فاعل جمله فعلیه خبریه سوه.

۵. ترکیب: ﴿جَاءَ زَيْدٌ اَبُوْ عَمْرٍو﴾ جاء فعل، زیدٌ متبوع، ابو مضاف، عمرو مضاف الیه، مضاف سره له مضاف الیه تابع عطف بیان سو، متبوع سره د تابع څخه فاعل سو د جاء، نور ترکیب ښکار دي.

ترکیب یې وکړئ

قَامَ عَمْرٌو اَبُوْكَ	قُطِعَ زَيْدٌ يَدُهُ
سُرِقَ حَمِيْدٌ نِعَالُهُ	بِعْتُ جَمَلًا فَرَسًا
ذَهَبَ بَكْرٌ وَخَالِدٌ	جَاءَ اَبُوْ الظَّفْرِ عَبْدُ اللهِ

اوولسم فصل

لَفْظِي او مَعْنَوِي عوامل

د اعراب عوامل پر دوه ډوله دي:

۱. لفظي. ۲. معنوي

لفظي عوامل: هغه دئ چي په ښکاره لفظونو کي موجود وي لکه: ﴿عَلَى الْاَرْضِ﴾ کي على الارض ته جر ورکړی دئ او په جاء زيد کي زيدٌ ته ضمه ورکړې ده. لفظي عوامل پر درې ډوله دي:

۱. حروف. ۲. اسماء. ۳. افعال

اتلسم فصل

هغه حروف چي په اسم کي عمل کوي

هغه حروف چي په اسم کي عمل کوي پر اووه ډوله دي:

۱. حروف جاره: دا اسم ته جر ورکوي، او دا اوولس دي:

بَـا وُ تَـا وُ کَافُ ولَامُ و وَاوُ و مُنْذُ و مُذْ خَلَا

رُبَّ، حَاشَا، مِنْ، عَدَا، فِيْ، عَنْ، عَلٰى، حَتّٰى، اِلٰى

مثالونه:

مَرَرْتُ بِزَيْدٍ، تَاللهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا، زَيْدٌ كَالْاَسَدِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَاللهِ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا، زَيْدٌ فِيْ الدَّارِ، سَاَلْتُهُ عَنْ اَمْرٍ، قَامَ زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ، مَا رَاَيْتُهُ مُنْذُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، جَاءَنِى الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ، رُبَّ عَالِمٍ يَعْمَلُ بِعِلْمِهِ، جَاءَنِى الْقَوْمُ

حَاشَا زَيْدٍ، جَاءَنِی الْقَوْمُ عَدَا زَيْدٍ، سِرْتُ مِنَ الْهِنْدِ اِلَى الْمَدِيْنَةِ، اَكَلْتُ السَّمْكَةَ حَتّٰى رَاْسِهَا، مَا جَاءَنِیْ زَيْدٌ مُذْ خَمْسَةِ اَيَّامٍ.

٢. حروف مشبه بالفعل: اسم ته نصب او خبر ته رفع ورکوي، چې هغه شپږ دي: اِنَّ، اَنَّ، كَاَنَّ، لَيْتَ، لٰكِنَّ، لَعَلَّ.

دغه شپږ حروف اسم نصب او خبر ته رفع ورکوي.

مثالونه:

اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، بَلَغَنِیْ اَنَّ زَيْدًا مُنْطَلِقٌ، كَاَنَّ زَيْدًا اَسَدٌ، غَابَ زَيْدٌ وَلٰكِنَّ بَكْرًا حَاضِرٌ، لَيْتَ زَيْدًا قَائِمٌ، لَعَلَّ السُّلْطٰنُ يُكْرِمُنِیْ.

٣. ما او لا: دا په عمل کې د ليس په ډول دئ.

د ما او لا عمل د اِنَّ او اَنَّ خلاف دئ، دا حرفونه اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي.

مثالونه: مَا زَيْدٌ قَائِمًا، لَا رَجُلٌ ظَرِيْفًا.

۴. لايي نفي جنس: د دې لا اسم اکثره مضاف منصوب وي او خبر يې مرفوع وي لکه: ﴿لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِیْ الدَّارِ﴾.

او که يې اسم نکره مفرده وي، نو په فتحه مبني کيږي لکه: ﴿لَا رَجُلٌ فِیْ الدَّارِ﴾ او که تر لا وروسته معرفه وي، نو له دوهمي معرفې سره د لا بيا راوړل ضروري دي او په دغه ځای کې لا عمل نه کوي او دغه دواړي معرفې به دابتداء له امله مرفوع وي لکه: ﴿لَا زَيْدٌ عِنْدِیْ وَلَا عَمْرٌو، لَا خَالِدٌ هٰهُنَا وَلَا سَعِيْدٌ﴾.

کله چې اسم د لا نکره مفرده وي او وروسته يې بله نکره وي، نو لا

به دوهم ځل بيا راوړل سي، په داسي صورت کي پنجه وجهي روا دي، لکه په لاندي مثالونو کي:

١. لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا إِمْرَأَةَ. ٢. لَا رَجُلٌ فِي الدَّارِ وَلَا إِمْرَأَةٌ.

٣. لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا إِمْرَأَةً. ۴. لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَلَا امْرَأَةٌ.

٥. لَا رَجُلٌ فِي الدَّارِ وَلَا إِمْرَأَةَ.

٥. حروف نداء: هغه حروف چي منادى مضاف ته نصب ورکوي.

د نداء حروف پنځه دي:

١. يَا ٢. اَيَا ٣. هَيَا ۴. اَیْ ٥. أَ لکه: ﴿يَا عَبْدَ اللّٰهِ﴾.

﴿اَیْ﴾ همزه د قريب (نژدې) لپاره راځي، ايا او هيا د بعيد (ليري) لپاره راځي او ﴿اَيَا﴾ عام دئ.

٦. و: په معنى د مع لکه: ﴿اِسْتَوَى الْمَآءُ وَالْخَشْبَةَ﴾.

٧. اِلَّا: د استثناء حرف لکه: ﴿جَاءَ الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا﴾.

نولسم فصل

په فعل مضارع کي عامله حروف

هغه حروف چي په فعل مضارع کي عمل کوي، پر دوه ډوله دي:

١. ناصبه. ٢. جازمه

هغه حروف، چي فعل مضارع ته نصب ورکوي، څلور دي:

اَنْ، لَنْ، کَیْ، اِذَنْ

دا حروف مستقبل ته نصب ورکوي.
مثالونه:
۱. اَنْ لکه: ﴿اُرِيْدُ اَنْ تَقُوْمَ﴾ ان فعل د مصدر په معنی اړوي، نو تقوم د قيام په معنی اړوي، نو داسي ترې جوړيږي: ﴿اُرِيْدُ قِيَامَكَ﴾.
۲. لَنْ لکه: ﴿اَسْلَمْتُ كَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ﴾.
۳. اِذَنْ لکه: ﴿اِذَنْ اَشْكُرَكَ﴾ د هغه سړي په جواب کي ويل کيږي چي ووايي: ﴿اَنَا اُعْطِيْكَ دِيْنَارًا﴾.
فايده: ان، تر شپږو حروفو وروسته پټ راځي او فعل مضارع ته نصب ورکوي:
۱. تر حتی وروسته لکه: ﴿مَرَرْتَ حَتّٰى اَدْخُلَ الْبَلَدَ﴾.
۲. تر لام جحد وروسته لکه: ﴿مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ﴾.
۳. تر اَوْ، وروسته چي اِلٰی اَنْ يا د اِلَّا اَنْ په معنی سره وي لکه: ﴿لَاَلْزِمَنَّكَ اَوْ تُعْطِيَنِیْ حَقِّیْ، اَیْ اِلٰی اَنْ تُعْطِيَنِیْ حَقِّیْ﴾.
۴. واو صرف: دا هغه واو ته وايي چي کوم شی پر معطوف عليه داخل وي هغه د دغه واو پر مدخول باندي نه سي داخلېدلای، لکه په دې شعر کي:

لَا تَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَاْتِیَ مِثْلَهُ
عَارٌ عَلَيْكَ اِذْ فَعَلْتَ عَظِيْمٌ

هغه کار ته مه راځه، چي خلک ترې منع کوي، ځکه که ته دا کار وکړې نو پر تا به لوی شرم وي.

په دې شعر کې د واو صرف: مدخول ﴿تَاْتِيْ مِثْلَهُ﴾ دئ، پر دې د ﴿لَا تَنْهَ﴾ لا نه سي داخلېدلای.
۵. تر لامِ کی، يعني هغه لامِ چي د کی په معنی وي، وروسته لکه: ﴿اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ﴾.
۶. تر هغه فاء وروسته چي د شپږو شيانو په جواب کي وي: امر، نهي، نفي، استفهام، تمنی، عرض.
۱. امر لکه: ﴿زُرْنِيْ فَاُكْرِمَكَ﴾.
۲. نهي لکه: ﴿لَا تَشْتِمْنِيْ فَاُهِيْنَكَ﴾.
۳. نفي لکه: ﴿مَا تَاْتِيْنَا فَتُحَدِّثَنَا﴾.
۴. استفهام لکه: ﴿اَيْنَ بَيْتِكَ فَاَزُوْرَكَ﴾.
۵. تمنی لکه: ﴿لَيْتَ لِيْ مَا لًا فَاُنْفِقَ مِنْهُ﴾.
۶. عرض لکه: ﴿اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا﴾.
حروف جازمه پنځه دي:

اِنْ، لَمْ، لَـمَّا، لَامِ امر، لَايِ نهي

دا حروف فعل مضارع ته جزم ورکوي.
مثالونه:

لَمْ يَنْصُرْ، لَمَا يَنْصُرْ، لِيَنْصُرْ، لَا يَنْصُرْ، اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ

ان، شرطيه په دوو جملو باندي داخلېږي لکه: ﴿اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ﴾. لومړي جملې ته شرطيه او دوهمي جملې ته جزاء وايي او اِن د مستقبل لپاره راځي، که څه هم پر ماضي داخل سي لکه: ﴿اِنْ

ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ﴾.

۱. **فايده:** که شرطيه جمله اسميه وي يا امريه نهي وي او يا دعا وي، نو په جزاء کي فاء راوړل ضروري دي لکه: ﴿اِنْ تَاْتِنِيْ فَاَنْتَ مُكْرَمٌ، اِنْ رَاَيْتَ زَيْدًا فَاَكْرِمْهُ، اِنْ اَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ، اِنْ اَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا﴾.

۲. **فايده:** چي کله ماضي د دعا په موقع کي راسي يا حرف شرط يا اسم موصول پر داخل وي، نو د مستقبل په معنی به وي.

شلم فصل

د افعالو عمل

هيڅ يو فعل بې عمله نسته او فعلونه د عمل په اعتبار پر دوه ډوله دي:

۱. مَعْرُوْف. ۲. مَجْهُوْل

معروف فعل پر دوه ډوله دئ:

۱. لَازِم. ۲. مُتَعَدِّيْ

معروف فعل: لازم وي او که متعدي وي، فاعل ته رفع ورکوي لکه: ﴿قَامَ زَيْدٌ، ضَرَبَ عَمْرٌو﴾ او بنپږو اسمونو ته نصب ورکوي:

۱. مَفْعُوْلُ مُطْلَقٍ. ۲. مَفْعُوْلُ فِيْهِ. ۳. مَفْعُوْلُ مَعَهُ
۴. مَفْعُوْلُ لَهُ. ۵. حَال. ٦. تمييز

چي وضاحت يې په منصوباتو کي تېر سوی دئ.

فعل مجهول: د فاعل پر ځای مفعول ته رفع ورکوي او پاته نورو مفعولاتو ته نصب ورکوي لکه: ﴿ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمْعَةِ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَاْدِيْبًا﴾.

فعل مجهول ته مالم يسم فاعله او د هغه مرفوع ته مفعول مالم يسم فاعله وايي.

فعل متعدي: ۱. متعدي يو مفعول ته لکه: ﴿ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًوا﴾.

۲. متعدي دوو مفعولو ته، چي د يو مفعول ذکر کول جايز دي لکه: ﴿اَعْطٰى﴾ او چي د دې هم معنى وي لکه: ﴿اَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا﴾ دلته اعطيت زيدًا، هم جايز دي.

۳. متعدي دوو مفعولو ته چي يوازي يو مفعول ذکر کول يې جايز نه وي، بلکي دواړه ذکر کول لازم وي لکه: ﴿رَاَيْتُ، وَجَدْتُ، عَلِمْتُ، زَعمْتُ، حَسِبْتُ، خِلْتُ، ظَنَنْتُ﴾.

لومړني درې د يقين لپاره دي او وروستني درې د شک لپاره دي، د شک او يقين تر منځ مشترک د زعمت کلمه ده.

مثالونه: رَاَيْتُ سَعِيْدًا ذَاهِبًا، وَجَدْتُ رَشِيْدًا عَالِمًا، عَلِمْتُ عَمْرًوا اَمِيْنًا، زَعَمْتُ اللّٰهَ غَفُوْرًا (د يقين لپاره)، زَعَمْتُ الشَّيْطٰنَ شَكُوْرًا (د شک لپاره)، حَسِبْتُ زَيْدًا فَاضِلًا، خِلْتُ خَالِدًا قَائِمًا، ظَنَنْتُ بَكْرًا نَائِمًا﴾.

۴. متعدي درې مفعولو ته لکه: ﴿اَعْلَمَ، اَرٰى، اَنْبَاَ، اَخْبَرَ، نَبَّاَ، حَدَّثَ﴾ لکه: ﴿اَعْلَمْتُ زَيْدًا عَمْرًوا فَاضِلًا، اَرَيْتُ عَمْرًوا خَالِدًا نَائِمًا﴾ دا ټول مفعولونه مفعول به دي.

افعال ناقصه: دا افعال سره له دې چې لازم دي، يوازې په فاعل نه پوره کيږي، بلکې خبر ته هم محتاج دي، له همدې امله دې ته افعال ناقصه وايي، دا جمله په اسميه کې مسند اليه ته رفع او مسند ته نصب ورکوي، دا ديارلس (۱۳) فعلونه دي:

﴿كَانَ، صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ، مَا بَرِحَ، مَا دَامَ، مَا انْفَكَّ، لَيْسَ، مَافَتٰى، مَا زَالَ﴾.

کوم فعلونه چې له دوی څخه مشتق سي، نو هغه هم د دې په څېر عمل کوي.

مثالونه: ﴿كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا، صَارَ الطِّيْنُ خَزَفًا، اَصْبَحَ زَيْدٌ غَنِيًّا، اَضْحٰى زَيْدٌ حَاكِمًا، اَمْسٰى عَمْرٌو قَائِمًا، ظَلَّ بَكْرٌ كَاتِبًا، بَاتَ خَالِدٌ نَائِمًا، اِجْلِسْ مَا دَامَ زَيْدٌ جَالِسًا، مَا بَرِحَ خَالِدٌ صَائِمًا، مَا انْفَكَ وَحِيْدٌ عَاقِلاً، مَا فَتٰى سَعِيْدٌ فَاضِلًا، مَا زَالَ بَكْرٌ عَالِمًا، لَيْسَ زَيْدٌ قَائِمًا﴾.

مُقَارِبَه فعلونه: دا فعلونه په عمل کې د ناقصهؤ په څېر دي، يعني اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي.

مقاربه فعلونه څلور دي: ﴿اَوْشَكَ، كَادَ، كَرَبَ، عَسٰى﴾.

مثالونه: ﴿عَسٰى زَيْدٌ اَنْ يَّخْرُجَ، عَسَتِ الْمَرْأَةُ اَنْ تَقُوْمَ، كَادَ عَمْرٌو يَذْهَبُ، كَرَبَ خَالِدٌ يَجْلِسُ، اَوْشَكَ بَكْرٌ اَنْ يَّجِيْءَ﴾.

افعال مَدْحِ وَذَم: د مدح او ذم څلور فعلونه دي: ﴿بِئْسَ، سَآءَ، نِعْمَ، حَبَّذَا﴾ بئس، سآء، د ذم (بدی) لپاره دي، نعم، او حبذا، د مدح (صفت) لپاره دي.

مثالونه:

﴿بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو، سَاءَ رَجُلًا زَيْدٌ، نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو، حَبَّذَا زَيْدٌ﴾.

فايده: هغه اسمونه چي د دې فعلونو تر فاعل وروسته واقع سي، هغه اسم ته مخصوص بالمدح يا مخصوص بالذم وايي خو شرط دا دئ چي فاعل به يا معرف باللام وي لكه: ﴿نِعْمَ الرَّجُلُ عَمْرٌو﴾ يا به معرف باللام ته واقع وي لكه: ﴿نِعْمَ صَاحِبُ الْعِلْمِ بَكْرٌ﴾ يا به فاعل ضمير مستتر وي، چي تميز يې نكره منصوبه وي لكه: ﴿نِعْمَ رَجُلًا زَيْدٌ﴾ په دې مثال كي د نعم فاعل هو دئ، چي مستتر دئ او رجلًا يې تميز دئ، په ﴿ حبذا زيد ﴾ كي حب فعل مدح دئ، ذا يې فاعل دئ او زيدٌ مخصوص بالمدح دئ، همداسي﴿بِئْسَ الرَّجُلُ عَمْرٌو﴾ او ﴿سَاءَ الرَّجُلُ زَيْدٌ﴾.

افعال تعجب: د هر ثلاثي مجردو له مصدر څخه دوې (٢) صيغې راځي.

لومړى: مَا اَفْعَلَهُ لكه: مَا اَحْسَنَ زَيْدًا، چي تقدير يې: اَىْ شَىْءٍ اَحْسَنَ زَيْدًا؟ دئ، تركيب: ما، په معنى د ﴿اَىُّ شَىْءٍ﴾ په محل د رفع كي مبتداء، احسن په محل د رفع كي خبر دئ او د احسن فاعل هو دئ، چي په احسن كي پټ دئ او زيدًا يې مفعول به دئ.

تركيب: ما، مبتداء، احسن، فعل، هو ضمير يې فاعل، زيدًا مفعول به، فعل سره له فاعل او مفعول به جمله فعليه خبريه سوه، خبر د مبتداء، مبتداء سره له خبره جمله اسميه انشائيه سوه.

دوهم: اَفْعِلْ بِهِ، لکه: ﴿اَحْسِنْ بِزَيْدٍ﴾ احسن د امر صيغه ده او د فعل ماضي په معنی دئ، تقدير يې داسي دئ: ﴿اَحْسَنَ زَيْدٌ﴾ يعني ﴿صَارَ ذَا حُسْنٍ﴾ او باء زائده ده.

يوويشتم فصل

اَسْمَاءُ عَامِلَه

عامله اسماء ټوله يوولس دي:

۱. اسماء شرطيه:

مَنْ، مَهْمَا، مَتٰى، اِذْمَاه، مَا، اَىُّ، حَيْثُمَا، اَنّٰى، اَيْنَمَا

دغه نهه پورتني اسمونه فعل مضارع ته جزم ورکوي.

مثالونه: مَنْ يُكْرِمْنِىْ اَكْرِمْهُ، مَهْمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ، مَتٰى تَذْهَبْ اَذْهَبْ، اِذْ مَا تُسَافِرْ اُسَافِرْ، مَا تَشْتَرِ اَشْتَرِ، اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِىْ اَضْرِبْهُ، حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ، اَنّٰى تَكْتُبْ اَكْتُبْ، اَيْنَمَا تَقْصِدْ اَقْصِدْ.

۱. اسماء افعال: نهه دي:

﴿هَيْهَاتَ، شَتَّانَ، سَرْعَانَ﴾ دا د ماضي په معنی دئ چي اسم ته رفع ورکوي، ځکه فاعل يې واقع کيږي.

﴿دُوْنَكَ، بَلْهَ، عَلَيْكَ، حَيَّهَلْ، رُوَيْدَ، هَا﴾ دا شپږ اسمونه د امر په معنی دي او اسم ته نصب ورکوي، ځکه مفعول يې واقع کيږي.

مثالونه: ﴿هَيْهَاتَ زَيْدٌ، شَتَّانِ زَيْدٌ وَعَمْرٌو، سَرْعَانَ عَمْرٌو﴾.

دا درې سره د ماضي په معنی راځي، او د فاعليت له امله اسم ته

رفع ورکوي.

دُوْنَكَ عَمْرًوا، بَلْهَ سَعِيْدًا، عَلَيْكَ بَكْرًا، حَيَّهَلِ الصَّلٰوةِ، رُوَيْدَ زَيْدًا، هَا خَالِدًا.

۳. اسم فاعل: دا د فعل معروف عمل کوي، يعني فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي، خو په دوو شرطو، يو دا چي اسم فاعل د حال يا استقبال په معنی وي، دوهم دا چي له شپږ شيانو څخه به يې پر يوه شي اعتماد کړی وي.

مبتداء لکه: ﴿زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ، زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا﴾.

موصوف لکه: ﴿مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْرًا﴾.

موصول لکه: ﴿جَاءَنِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ، جَاءَنِيْ الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًوا﴾.

ذو الحال لکه: ﴿جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا﴾.

همزه د استفهام لکه: ﴿اَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًوا﴾.

د نفي توري لکه: ﴿مَا قَائِمٌ زَيْدٌ﴾. کوم عمل، چي قام يا ضرب کوي، هغه عمل به قائم او ضارب هم کوي.

۴. اسم مفعول: دا د مجهول فعل عمل کوي، يعني مفعول مالم يسم فاعله ته رفع ورکوي، د دې د عمل هم دوه شرطونه دي:

لومړی: د حال يا استقبال په معنی به وي.

دوهم: له مخکني شپږ اعتمادونو څخه به يو پکښې موجود وي.

لکه: ﴿زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ اَبُوْهُ، وَعَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ دِرْهَمًا، بَكْرٌ مَعْلُوْمٌ اِبْنُهُ فَاضِلًا، وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ اِبْنُهُ عَمْرًوا فَاضِلًا﴾.

کوم عمل چي ﴿ضُرِبَ، اَعْطٰى، عُلِمَ، اَخْبِرَ﴾ کوی، نو هم هغه عمل به

﴿مَضْرُوْبٌ، مُعْطًى، مَعْلُوْمٌ، مُخْبَرٌ﴾ هم كوي.
٥. صفت مشبه: دا د لازمي فعل عمل كوي خو پر مخكنيو شرطونو لكه: ﴿زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ﴾ كوم عمل چي حَسُنَ كوى، هغه عمل به حَسَنٌ هم كوي.
اسم تفضيل: دا هم فاعل ته رفع وركوي، خو شرط يې دا دئ چي له درو طريقو څخه به په يوې طريقې كاربدلاى سي.
١. په من سير سره لكه: ﴿زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو﴾.
٢. په الف لام سره لكه: ﴿جَاءَنِيْ زَيْدُ الْاَفْضَلُ﴾.
٣. په اضافت سره لكه: ﴿زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ﴾. اسم تفضيل په خپل فاعل كي عمل كوي او فاعل يې پټ ضمير وي.
مصدر: مصدر هم د خپل فعل عمل كوي خو شرط يې دا دئ چي مفعول مطلق به نه وي لكه: ﴿اَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًوا﴾.
٨. اسم مضاف: مضاف اسم مضاف اليه ته جر وركوي لكه: ﴿جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ﴾ دلته په حقيقت كي لام مقدر دئ، ځكه چي تقدير يې ﴿غُلَامٌ لِزَيْدٍ﴾ دئ.
٩. اسم تام: اسم تام تميز ته نصب وركوي، اسم تام په لفظي تنوين لكه: ﴿مَا فِيْ السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا﴾ يا په مقدر تنوين لكه: ﴿عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا، زَيْدٌ اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا﴾ يا د تثنيې په نون لكه: ﴿عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا﴾ او يا په هغه نون چي د جمع له نون سره مشابه وي لكه: ﴿عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا﴾.

۱۰. کنايي اسمونه: كَمْ، كَذَا.
کم: پر دوه ډوله دئ: ۱. استفهاميه. ۲. خبريه
استفهاميه کم او کذا دواړه تميز ته نصب ورکوي لکه: ﴿كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا﴾.
کم خبريه تميز ته جر ورکوي لکه: ﴿كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ؟ وَكَمْ دَارٍ بَنَيْتُ؟﴾ کله د خبريه کم پر تميز باندي جاره من هم رائحي لکه: ﴿كَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِيْ السَّمٰوٰتِ﴾.

دوويشتم فصل

د عوامل معنوي دوهم قسم

عوامل معنوي: دې ته وايي چي په الفاظو کي په څرګند ډول نه وي موجود، چي دا بيا په خپل وار پر دوه ډوله دي:
۱. ابتداء: يعني د لفظيه عواملو څخه خالي کېدل، چي دا مبتداء رفع ورکوي لکه: ﴿زَيْدٌ قَائِمٌ﴾ په دې زيد مبتداء دئ، چي په ابتداء سره مرفوع دئ او قائم خبر هم د ابتداء له امله مرفوع دئ، نو په مبتداء او خبر کي يو معنوي عامل دئ چي ابتداء ده.
په دې ځای کي دوه مذهبه نور هم دي: لومړی دا چي په مبتداء کي ابتداء عمل کوي او په خبر کي مبتداء، يعني د مبتداء عامل معنوي دئ په ابتداء او په خبر کي عامل لفظي دئ، چي مبتداء ده.
دوهم دا چي مبتداء او خبر دواړه په يوه بل کي عمل کوي، مبتداء

په خبر کي او خبر په مبتداء کي، نو د دواړو عامل لفظي دئ.
٢. فعل مضارع: په فعل مضارع کي ناصب او جازم نه کېدل خپله فعل مضارع ته رفع ورکوي لکه: ﴿يَضْرِبُ زَيْدٍ﴾ دلته يضرب مرفوع دئ، ځکه ناصب او جازم عاملونه پکښي نسته.

دروېشتم فصل

حروف غير عامله

ټول غير عامله حروف شپاړلس دي:

١. د تنبيه حروف: اَلَا، اَمَا، هَا، دا حروف پر جملې باندي د مخاطب د متوجې کولو لپاره راځي لکه: اَلَا زَيْدٌ قَائِمٌ، اَمَا عَمْرٌو نَائِمٌ، هَا اَنَا حَاضِرٌ.

٢. د ايجاد حروف: نَعَمْ، بَلٰى، اَجَلْ، اِيْ، جَيْرُ، اِنَّ.

نعم: نعم د مخکنۍ خبري تصديق کوي، هغه خبره په نفي کي وي او که په اثبات کي لکه: ﴿مَا جَاءَ زَيْدٌ﴾ په جواب کي نعم ويل کيږيو يعني ﴿مَا جَاءَ زَيْدٌ﴾ يا لکه د ﴿ذَهَبَ عَمْرٌو﴾ په جواب کي چي نعم ويل کيږي، يعني ﴿ذَهَبَ عَمْرٌو﴾.

بلٰى: د نفي لپاره راځي لکه: ﴿الست بربكم ط قالوا بلى﴾ يعني ﴿بَلٰى اَنْتَ رَبُّنَا﴾[1] اِيْ، هم د نعم په ډول دئ، خو فقط دومره توپير لري چي

(١) خو فقط دا يوه خبره مهمه ده هغه دا چي نعم له شک سره استعماليږي او بلى له شک څخه خالي استعماليږي يعني په بلى کي شک نسته خو په نعم کي شک سته. ١٢ ن

اِيْ تر استفهام وروسته راځي، لکه څوک چي وايي: ﴿اَقَامَ زَيْدٌ﴾ نو په جواب کي يې وويل سي ﴿اِىْ وَاللّٰهِ﴾ هو قسم په الله.
اجل جير: دا هم د نعم په شان دئ خو له دې سره قسم ضروري نه دئ.
اِنَّ: دا هم دې ته ورته دئ، خو لږ کارېږي.
۳. حروف تفسير: د تفسير حروف دوه دي: اى او وان لکه:
﴿جَاءَنِىْ زَيْدٌ، اَىْ اَبُوْكَ﴾.
لکه په قرآن مجيد کي چي راغلي دي: ﴿ وَنَادَيْنٰهُ اَنْ يَّا اِبْرَاهِيْمُ ﴾ يعني ﴿نَادَيْنَاهُ بِلَفْظٍ هُوَ قَوْلُنَا يَا اِبْرَاهِيْمُ﴾.
۴. حروف مصدريه: دا ټول درې حروف دي: مَا، اَنْ، او اَنَّ.
مَا او انَّ له فعل څخه مصدر جوړېږي لکه د قرآن کريم دا وينا ورته متوجې سئ:
﴿ ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ. اَىْ بِرُحْبِهَا﴾
﴿وَاَعْجَبَنِىْ اَنْ ضَرَبْتَ، اَىْ ضَرْبُكَ ﴾.
اَنَّ پر اسم (نوم) والا جمله داخلېږي لکه:
﴿بَلَغَنِىْ اَنَّ زَيْدًا نَائِمٌ، اَىْ نَوْمُهُ﴾.
۵. حروف تحضيض:
د تحضيض حروف څلور دي: اَلَّا، هَلَّا، لَوْمَا، لَوْلَا.
که دا حروف پر مضارع راسي نو موخه به يې غصه کېدل او هڅول وي لکه: ﴿هَلَّا تُصَلِّىْ﴾ يعني ته لمونځ ولي نه کوي. دا چي

تحضیض غصه کېدو ته وايي، نو ځکه دغه حروفو ته د تخضیض حروف وايي، چې په دې کې هم هڅول هدف وي، که دغه حروف پر ماضي داخل سي، نو موخه به يې د مخاطب پښېمانه کول وي لکه: ﴿هَلَّا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ؟﴾ يعني د مازيګر لمونځ دي ولي نه دئ کړی. ځکه چي دغه حروفو ته د تنديم حروف هم وايي.

٦. **حروف تَوَقُّع**: د توقع حرف قد دئ، دا حرف ماضي را نږدې کوي او د بېشکه په معنی کارېږي، په مضارع کي د تقليل معنی ورکوي لکه: ﴿قَدْ جَاءَ زَيْدٌ﴾ يعني زيد راغلی دئ، يا بېشکه زيد راغلی دئ او يا لکه: ﴿قَدْ يَجِيْءُ زَيْدٌ﴾ يعني زيد کله ناکله راځي، همداسي قد کله په مضارع کي هم د بېشکه معنی ورکوي لکه: ﴿قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ﴾ يعني بېشکه الله تعالی پوهيږي.

٧. **حروف استفهام**: د استفهام ټول حروف درې دي: مَا، اَ، هَلْ.
دغه درې سره حروف په شروع کي راځي لکه: ﴿مَا اسْمُكَ؟ اَزَيْدٌ قَائِمٌ؟ هَلْ زَيْدٌ قَائِمٌ؟﴾.

٨. **حروف رَدْعِ**: د ردع حرف كَلَّا دئ، چي دا اکثره وخت د انکار او منعي لپاره راځي لکه څوک چي ووايي: ﴿كَفَرَ زَيْدٌ﴾ د دې په جواب کي كَلَّا ويل کيږي، چي نه هيڅکله نه.
همدارنګه كَلَّا د حَقًّا يعني بېشکه په معنی هم راځي لکه:
﴿كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ﴾ يعني بېشکه نژدې ده چي تاسي به پوه سئ.

٩. **تنوين**: تنوين ګڼ ډولونه لري، چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

١. تمکن لکه: زَيْدٌ ٢. عوض لکه: يَوْمَئِذٍ، چي دا د ﴿يَوْمَ، اِذْ كَانَ كَذَا﴾ په بدل کي ويل کيږي، همدا راز ﴿حِيْنَئِذٍ﴾ د ﴿حِيْنَ اِذْ كَانَ كَذَا﴾ په ځای وايي.

١٠. **نون تاکيد** لکه: ﴿اِضْرِبَنَّ، اِضْرِبَنْ﴾.

١١. **لام مفتوحه**: چي دا د تاکيد لپاره راځي لکه:

﴿لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو﴾.

١٢. **حروف زيادت**: د زيادت ټول حروف اته دي، چي په لاندي ډول دي: اِنْ، اَنْ، مَا، لَا، مِنْ، ك، ب، ل

مثالونه: مَا اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ، فَلَمَّآ اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ، اِذَا مَا تَخْرُجْ اَخْرُجْ، مَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو، مَا جَاءَنِيْ مِنْ اَحَدٍ، لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ، مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ، رَدِفَ لَكُمْ.

١٣. **حروف شرط**: د شرط حروف دوه دي، چي يو يې اَمَّا دئ او بل يې لَوْ دئ. اَمَّا يې د تفسير لپاره راځي او په جواب کي يې فاء راوړل ضروري دي لکه د الله تعالی دغه سپېڅلې وينا: ﴿ فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ • فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴾.

لَوْ د اولي جملې د منفي کېدو په وجه د دوهمي جملې نفي څرګندوي، لکه په قرآن مجيد کي چي راغلي دي:

﴿ لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ﴾.

١۴. لَوْ لَا: دا د شي د شتون له امله انتفاء د ثاني کوي، لومړی لکه:

﴿لَوْ لَا زَيْدٌ لَهَلَكَ عَمْرٌو﴾ يعني که زيد نه واى نو عمر به هلاک سوى واى، يعني د زيد شتون د عمر د ژغورل کېدو لامل سو.

١٥. مَا: مَا د مَادَامَ په معنى هم راځي، لکه ويل کيږي چي: ﴿اَقْوَمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ﴾ يعني زه به تر هغو ولاړ يم چي امير ناست وي.

١٦. حروف عطف: د عطف ټول حروف لس دي:

وَ، فَ، ثُمَّ، حَتّٰى، اِمَّا، اَوْ، اَمْ، لَا، بَلْ، لٰكِنْ

دغه حروف وروستۍ کلمه له مخکنۍ کلمې سره يو ځاى کوي.

تمام سو

د دغه کتاب په تصحيح کي او اعراب مو ډېر زيات کوښښ وکړ، الله رب العزت دي يې قبول کړي.

ستاسو ورور

مفتي ابو الاخلاص الفقهي

٢ / ۴ / ١۴۴٦ هـ ق

د مؤلف نور چاپ سوي آثار

۱. فيض الحقانية شرح کافيه / تصحيح او تشريح / انبياء کتب خانه

۲. الفهم القريب شرح شرح التهذيب / انبياء کتب خانه

۳. تقريب الکريمي شرح بيضاوي / انبياء کتب خانه

۴. قدوري: تصحيح، تشريح او صحيح متن / مکتبه رحمانيه

۵. التحفة الکريميه حاشية على الهداية / انبياء کتب خانه

٦. کشف التحريفات / مکتبة الحراء

۷. معلم التجويد: تصحيح، ژباړه او تشريح / انبياء کتب خانه

۸. علم الصرف: تصحيح او تشريح / مکتبة الحراء

۹. فتاوی حنفيه نقشبنديه کريميه / زير طبع

۱۰. فتاوی فقهيه مجلسيه پښتو / زير طبع

۱۱. الارشادات في مباحث البدعات / مکتبه رحمانيه

۱۲. فوائد کريميه في معلومات مذهب الحنفيه / کريميه مدرسه

۱۳. فوائد اخلاصيه في معلومات قرآنيه / کريميه مدرسه

۱۴. شروط الصلوة، پښتو: / کريميه مدرسه

۱۵. الفقه الاکبر: تحقيق، تشريح، وضاحت / مکتبة الحراء

۱٦. البدر الجلي شرح ايساغوجي، تحقيق تصحيح / انبياء کتب خانه

١٧. معرفة الفقه وصاحب الهداية والهداية / كريميه مدرسه

١٨. صلوة حفظ القرآن پښتو / كريميه مدرسه

١٩. خير الاصول في حديث الرسول: ژباړه، تصحيح وتشريح / انبياء كتب خانه

٢٠. علم النحو: ژباړه او تشريح / مكتبة الحراء

٢١. تسهيل الادب: ژباړه او تصحيح / انبياء كتب خانه

٢٢. مجموعة الرسائل التسعة العشرة / كريميه مدرسه

٢٣. اكمال الاطمينان بر هامش تكميل الايمان فارسي / كريميه مدرسه

٢٤. رساله: وهابيان د اسلام له نظره پښتو ژباړه / كريميه مدرسه